وَهُوَ بِالأُفُقِ الأَعْلَى

اُفق

علمي، تربيوي، اصلاحي
او تحقيقاتي مجله

مسؤل مدير: مولانا محمد عمران شريف

نائب مدير: مولانا مفتي احسان الله الماتريدي

دويمه
گڼه

بياد:

علامه انورشاه كشميري رحمه الله
علامه عبدالقدير لغماني صديقي رحمه الله
علامه عبدالعلي الديوبندي رحمه الله
امام العزيمة الشيخ رحيم الله الحقاني رحمه الله

زيرسرپستي:

الشيخ شريف الله المدني
الشيخ عبدالولي النقشبندي
الشيخ حضرت جان الحنفي
الشيخ مفتي نجيب الله منيب
الشيخ مفتي شير محمد حقاني
الشيخ محمد قاسم ننگرهاري
الشيخ امير الرحمن النعماني
الشيخ عبدالحى الحنفي

كتنپلاوى:

حضرت مولانا ثناء الله صفدر
حضرت مولانا محمود الحسن ديوبندي
حضرت مولانا عبدالرشيد بنوري
استاذ محترم عبدالسلام وزيروال
حضرت مولانامحمد زرولي خان
حضرت مولانا عبدالكريم سراج
حضرت مولانا حشمت الله مياخيل
حضرت مولانا عزت الله دروپش
حضرت مولانا مفتي محمد قاسم اسعدي
حضرت مولانا عبيد الله فايق

ډيزاين: منصف حليمي مطبعه-جلال اباد

نشر: شعبه دارالتصنيف والتحقيق جامعه عبدالله بن مسعود رضى الله عنه، سراچه على خان، بهسود-جلال اباد.

لړ ليک

نعت شريف ..... ادريس حقيار

د سورة فاتحې تفسيري فوائد ..... مفتي ابو الاحسن بنوري

د نبي کريم ﷺ سيرت ..... مولانا محمد عمران شريف

په اسلام کې د وراثت عادلانه نظام ..... مفتي رؤف الله لوگري

علم الکلام ..... مولانا ثناء الله صفدر

په تبليغي جماعت د اعتراضاتو جوابات ..... مفتي مغفور الله نعماني

د «حنفي فقهي »اطلاق د چا په اقوالو کيږي؟ ..... مولانا محمود الحسن ديوبندي

د حنفي فقهې اته ستريې ځانګړتياوي ..... مفتي عزت الله درويش

د اسلام له نظره د تجارت فضيلت او د مسلمان تاجر صفات ..... مولانا حشمت الله مياخيل

د افغانستان مفاخر « علامه غلام نبي کاموي» ..... محمد عمران شريف

د ميلاد النبي صلى الله عليه وسلم شرعي حثيت ..... مفتي ابو ياسر عبدالصبور حقاني

کارګزاري ..... ادارية

نعت شريف

محترم ورور ادريس حقيار

ټوکېږي مې سينه کې بيا ارمان د مدينې
نصيبه که مې وروړې تر جانان د مدينې

د خپلې بې وسۍ به ورته ووايم حالونه
په خوب کې مې که وليدۀ سلطان د مدينې

قسمت زما که وشو د جانان سره د وصل
روزه به ښکلومه په چشمان د مدينې

رؤزه مې د اشنا په رنځورۍ باندې پوهېږي
زما ټپي زړګی ته دی درمان د مدينې

د ونو کانړو بوټو او تر هم په څو چنده
دردونه په نبي اخير زمان د مدينې

ادريس حقياره څۀ وکړمه بس خو ناچاري ده
والله چې زغمی نشم نور هجران د مدينې

د سورة فاتحې تفسيري فوائد

ژباړه اوترتيب مفتي ابوالاحسن بنوري

(اوله برخه)

سوره فاتحه د قران کريم لومړۍ سورت دی علماوو يی ډيرنومونه ذکرکړي لکه ام الکتاب، فاتحة الکتاب ،شفاء اودوعاءپه نومونو هم يادېږي دا سورت د ټول قران کريم خلاصه ده او د انسان او الله تعالی ترمنځ د اړيکو بنسټ جوړوي د دې سورت علمي او هر اړخيز تفسير په لاندې ډول دی

دعلماوو په وينا د دې سورت لوستل د هر لمانځه په هر رکعت کې واجب دي سورت فاتحه په دريو اساسي برخو ويشل شوی دی۱ د الله تعالی پېژندنه او ستاينه (توحيد او حمد)لومړۍ برخه له الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ څخه پيل تر مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ پورې ده دا برخه د الله تعالی صفتونه د هغه ربوبيت او د قيامت د ورځې واکمني بيانوي دا د بنده لخوا د الله تعالی د عظمت اعتراف دی۲ د بنده ګانو(عبوديت) عاجزي او عبادت إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ په دې مبارک ايت کې بنده اقرار کوي چې يوازې د الله عبادت کوي او يوازې د هغه څخه مرسته غواړي دا د شرک ضد تر ټولو قوي عقيده ده۳ دعاء اود هدايت غوښتنه اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ دلته بنده د الله تعالی څخه د مستقيمې لارې (صراط مستقيم) غوښتنه کوي دادهغو کسانو لاره ده چې الله پرې خپل نعمتونه نازل کړي دي او د لارې د ګمراهانو له لارې څخه پاکه ده

ولې دا سورت اهميت لري؟

ځکه داد قران جوهردی علماوو د دې سورت د اهميت له امله ورته د ټول قران کتلاګ يا خلاصه ويلې ده

(سورة الفاتحه او دوعا)

سورة الفاتحه د معنا له مخې پوره د دعا له کلمو څخه جوړه ده له همدې امله د دې سورت يو نوم «سورة الدعاء» هم دی

(۱) د دعا له غوښتلو مخکې د دعا د آدابو مراعات ضروري دی د دعا آداب دا دي چې لومړی د الله تعالی حمد او ثنا بيان کړي بيا د ځمکې پر مخ تر ټولو سپېڅلي شخصيت حضرت محمد صلی الله عليه وسلم باندې درود ووايي او بيا د خپلې دنياوي او اخروي اړتيا لپاره په زاری او عاجزی سره دعا وکړي همدا طريقه په حديث کې راغلې ده (۲) اونفسِ المانځه څخه هم همدا سبق ترلاسه کېږي چې لومړی حمد او ثنا تسبيح او تهليل تکبير په وروستي تشهد کې درود او بيا دعا همدارنګه د دعا نور آداب لکه په اوداسه يعنی په طهارت کېدل د قبلې لوري ته مخامخ کېدل او په عاجزی سره غوښتل دا ټول د سورة الفاتحه څخه هم په دې ډول اخذ کېدای شي چې سورة الفاتحه عموماً په لمانځه کې لوستل کېږي چې لپاره يې طهارت او د قبلې لوري ته مخامخ کېدل او همدارنګه په حال او قال سره د عاجزی څرګندول يقيني امر دی نو ځکه د دې سورت يو نوم «سورة الصلاة» هم دی

داسې دعا بايد انتخاب شي چې د ژوند ټول اړخونه په ځان کې راونغاړي لکه:اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ: دادوعا دژوند هر اړخ رانغاړي همدارنګه :رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً: او داسې نورې دعاګانې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خوښې کړې دي

:الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ: د قرآن کريم هغه آيتونه چې پای يې د اسماء حسنىٰ سره وي لکه:الْغَفُورُ الرَّحِيمُ: :اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ: :سَمِيعٌ بَصِيرٌ :عَزِيزٌ حَكِيمٌ: او نور په حقيقت کې د دې صفتونو او د آيت د مضمون ترمنځ ژوره اړيکه او مناسبت وي مثلاً د :قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَىٰ أَنْفُسِهِمْ: پای :الْغَفُورُ الرَّحِيمُ: دی همدارنګه :لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ: پای :وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ: دی او :قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي : د سورت مجادله د لومړۍ آيت پای :سَمِيعٌ بَصِيرٌ: دی مناسبت يې څرګند دی دلته صفات جماليه راغلي

همدارنګه د سرقت آيت :وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا : پای : عَزِيزٌ حَكِيمٌ : دی دلته صفات جلاليه ذکرشوی

د همدې بنسټ له مخې که وکتل شي، نو په سورة الفاتحه کې : الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ : د ربوبيت يا د هدايت د دعا له غوښتنې سره پوره مناسبت لري ويل کېږي چې همدې دليل له مخې د سورة توبې پيل د : بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ : نه دی شوی ځکه په دې سورت کې د مشرکينو سره د جهاد او وژنې حکم دی، چې د جلال څرګندونه ده حال دا چې : الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ : د اکرام او جمال له صفتونو سره تړاو لري والله اعلم بالصواب

دعوىٰ مع الدليل: د الله تعالى حمد او ثنا او شکر بيان شوی او علت بيان شوی دی : الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ : د الله تعريف او شکر ځکه دی چې هغه د ټولې نړۍ پالونکی ذات دی (۳) همدارنګه په نورو سورتونو کې هم همدا طرز او اسلوب اختيار شوی دی لکه : الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ : کې د آسمانونو او ځمکې د پيدايښت پر بنسټ شکر دی او : الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَىٰ عَبْدِهِ الْكِتَابَ : کې د کتاب د نازلولو پر بنسټ شکر بيان شوی دی

د تسبيح او تحميد سورتونه

هغه سورتونه چې پيل يې د حمد په کلمې سره شوی دی پنځه دي سورة الفاتحة، سورة الأنعام، سورة الكهف، سورة سبأ او سورة فاطر له دغو سورتونو څخه زياتره اوږده دي، يوازې سورة الفاتحة لنډه خو ډېره جامع سوره ده او هغه سورتونه چې په تسبيح سره پيل شوي دي، اووه دي سورة الإسراء (بني اسرائيل)، سورة الحديد، سورة الحشر، سورة الصف، سورة الجمعة، سورة التغابن او سورة الأعلى. له دغو څخه زياتره لنډ دي يوازې سورة الإسراء نسبتاً اوږده ده ښايي په دې کې دا حکمت وي والله أعلم بالصواب چې په حمد او ثنا کې تفصيل غوره ګڼل شوی خو په تنزيه او تسبيح کې اجمال مطلوب دی همدارنګه په ټول قرآن کريم کې د حمد کلمه د تسبيح په پرتله ډېره کارول شوې ده ځينې سورتونه په حمد سره پای ته رسېږي لکه سورة الزمر(وَقُضِيَ بَيْنَهُمْ بِالْحَقِّ وَقِيلَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ) او ځينې سورتونه په تسبيح سره پای ته رسېږي لکه سورة الواقعة(فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ) او ځينې سورتونه داسې دي چې پای يې هم په تسبيح او هم په حمد وي،

لکه سورة الصافات (سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ) د جنت د لارې، يعنې د هدايت پيل په حمد سره شوی دی(الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ... اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ) او د هدايت پای يعنې جنت ته رسېدل هم په حمد سره دي(الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي هَدَانَا لِهَذَا) او (وَآخِرُ دَعْوَاهُمْ أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ) په دعا کې مناسبه ده چې د جمعې صيغه وکارول شي څو دعا ټول مسلمانان رانغاړي(اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ) همدارنګه له دې آيت څخه د جماعت لمانځه ته هم اشاره اخېستل کېدای شي په سورة الفاتحة کې د وعدې او وعيد دواړه اړخونه شته وعده لکه (أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ) يعنې که نېک عمل وشي انعام به وي. وعيد لکه (غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ) يعنې که بد عمل وشي، غضب به وي

له (الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ)څخه تر(إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ) پورې په کلام کې له غايب څخه مخاطب ته التفات شته او همدارنګه له ټيټې مرتبې څخه لوړې مرتبې ته انتقال ليدل کېږي

(مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ)دا مفهوم د سورة غافر له دې آيت څخه څرګندېږي (لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ ۖ لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ) او د سورة الانفطار له دې آيت څخه (ثُمَّ مَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ ، يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِنَفْسٍ شَيْئًا وَالْأَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِلَّهِ)

په (إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ، اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ)کې له عام څخه خاص او بيا له خاص څخه تر ټولو خاص مقام ته انتقال دی عبادت عام دی استعانت تر ې ځانګړې ده او دعا تر دواړو لا ځانګړې ده. په حديث کې راغلي (الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ) ځينې علماء وايي چې عبادت او دعا يو له بل سره لازم او ملزوم دي ځکه د عبادت معنا عاجزي او تذلل دی او همدا په دعا کې هم مطلوب دي

په ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ کې عبادت يوازې د الله تعالی لپاره ځانګړی شوی دی، ځکه د جملې هغه برخه چې عادتاً وروسته راځي مخکې راوستل شوې او دا د تخصيص معنا ورکوي

﴿وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ ته ورته مضمون په دې آيت کې هم راغلی دی (وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ)

د استعانت عملي او فوري بڼه دا ده: ﴿اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾ يعنې بنده له الله تعالی څخه د نېغې لارې غوښتنه کوي. دا دعویٰ سره دليل ده

د﴿الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾ تفسير په اعتدال او منځلاريتوب سره شوی دی له دې څخه د اعتدال اهميت څرګندېږي ځکه ټول مسلمانان په هر لمانځه کې د دې دعا ويلو ته مکلف شوي دي اعتدال په عقيده عمل او د ژوند په ټولو برخو کې مطلوب دی

د دې سورت له مهمو ګټو څخه يوه دا ده چې انسان بايد له افراط او تفريط څخه ځان وساتي ﴿غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ﴾

* د دعا پيل د هدايت په غوښتلو سره شوی ﴿اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾ او پای يې د گمراهۍ په نفی سره ﴿وَلَا الضَّالِّينَ﴾ ځکه هدايت د ضلالت ضد دی، نو په دې سره د هدايت غوښتنه بشپړيږي او د (وبضدها تتبين الأشياء) قاعده هم روښانه کيږي.

له ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ څخه د عمل په وسيله د توسل ثبوت هم اخيستل شوی دی د غار د دريو کسانو حديث دا معنا په ښکاره ډول بيانوي، يعنې بنده د خپلو خالصو اعمالو او عبادتونو وسيله الله تعالی ته وړاندې کوي او مرسته ترې غواړي همدارنګه ځينې علماء له همدې آيت څخه د فرض لمانځه وروسته د دعا د استحباب استدلال هم کوي.

په دارالعلوم ديوبند کې په اول کال د طلباؤ تعداد:

د محرم الحرام په نهم(۹) تاريخ د يوې خبرتيا په ذريعه د مدرسې د قيام اعلان وشو، چې په کې دا خبره ظاهره شوه، چې تر اوسه پورې څلور سوه او يوه روپۍ او اته انې چنده شوې ده او د شپاړس طالب علمانو د خوراک بندوبست شوی دی، چې څومره چانده زياتيږي، د طلباؤ لپاره به سهولتونه هم زياتيږي، د کال اخير پورې د طلباؤ تعداد اته اويا (۷۸) پورې ورسېد، چې په کې اته پنځوس (۵۸) د بيرون ساحو څخه وو، د دوه پنځوس (۵۲) طلباوو د خوراک ذمه د ښار خلکو اخيستې وه، بيا مدرسين هم زيات شول، چې تعداد يې پنځه شو.(دارالعلوم ديوبند او علماء ديوبند ص ٦٥)

د نبي کريم ﷺ سيرت

جمع او ترتيب محمد عمران شريف

(دويمه برخه)

په دې دوره کې د عربو له مشهورو شخصيتونو څخه د قُصَيّ بن کِلاب نوم و. د يوې روايت له مخې د قُصَيّ بن کِلاب لقب «قريش» و، له همدې امله د هغه اولادې ته قريشي ويل کېدل. په داسې حال کې چې د بل روايت له مخې، د قُصَيّ بن کِلاب څخه شپږ نسلونه مخکې د بني اسماعيل په منځ کې فِهر بن مالک يو ستر شخصيت و چې لقب يې «قريش» و.

قُصَيّ بن کِلاب بن مُرَّة بن کَعْب په مکه کې د قريشو مشر و. هغه مکه د خزاعه له واکمنۍ څخه آزاده کړه او قريشو ته يې له ذلت وروسته عزت او شرافت ورکړ. د ځاه کيندل، د بيت الله الحرام له زيارت کوونکو سره خدمت کول او د کعبې شريفې بيا رغول د هغه له مهمو خدمتونو څخه وو.

د کعبې شريفې توليت داسې يو ستر شرف و چې له امله يې قُصَيّ بن کِلاب او د هغه اولادې نه يوازې په مکه، بلکې په ټول عربي ټاپووزمه کې ځانګړی عزت او مشري ترلاسه کړه، او بيا همدې قريش (د آل قصي بن کِلاب) په عملي توګه هم ځان د دې وړ ثابت کړ.

قُصَيّ بن کِلاب يوازې د کعبې شريفې ټول انتظام او نظم برابر نه کړ، بلکې له دې څخه وړاندې يې مکه په منظم ډول د يوې رياست په بڼه جوړه کړه، شپږ بېلابېلې برخې يې رامنځته کړې او د وړ کسانو ترمنځ يې ووېشلې. له ده وروسته د ده لمسيانو د خپلمنځي تفاهم له مخې دغه شپږ برخې په لسو برخو ووېشلې او په خپل منځ کې يې تقسيم کړې، او همدا نظام د بعثت نبوي ﷺ تر زمانې پورې په ډېره بريالۍ توګه روان و.

د دې وېش په پايله کې د رسول الله ﷺ جد امجد حضرت هاشم ته د سقايې (حاجيانو ته د اوبو ورکولو)، عمارة البيت (په حرم کې د نظم او ضبط ټينګول او د حرم د احترام خيال ساتل) او افاضې (د حج د مراسمو مشري کول) دندې وسپارل شوې، چې له هغه وروسته د بني هاشمو په کورنۍ کې نسل په نسل روانې پاتې شوې.

حضرت هاشم بن عبد مناف د قُصَيّ بن کِلاب لمسی و. هغه ډېر ستر او جليل القدر شخصيت و. له د حبشې له پاچا او د روم له قيصر سره يې هم سفارتي او سوداګريزې اړيکې جوړې کړې وې، او له بېلابېلو عربي قبايلو سره يې هم ټرونونه کړي وو. د هغه د دې طريقې او کارنامو له امله د قريشو په نورو قبايلو کې بني هاشمو ته ځانګړی عزت او درناوی پيدا شوی و.

له دې سربېره، په جګړه کې د لښکر مشري او د بېرغ وړلو دنده د بني اميه کورنۍ ته ورغلې وه. د قريشو د لښکر قوماندان به هم له بني اميه څخه ټاکل کېده. له همدې امله حرب، چې د حضرت هاشم د وراره اميه زوی و، او د هغه زوی حضرت ابوسفيان ته به د قريشو د لښکر مشري سپارل کېده.

په همدې توګه د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه قبیلې، بني تمیم بن مره ته د «اشناق» دنده وسپارل شوه، یعنې د مدني او جزایي محکمو چارې، د دیتونو او جرمانو د ټاکلو او راټولولو مسؤولیت.

له دې پرته، د سفارت ځانګه د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه قبیلې، بني عدي ته ورسېده. د دوی دنده له نورو قبایلو سره مذاکرات، ټرونونه او سفارتي چارې وې.

بني مخزوم چې د حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه قبیله وه، د «قُبّة او اَعِنّة» ځانګه یې په غاړه لرله. د دوی دنده د ملي اړتیاوو لپاره د مال او وسایلو راټولول او د پوځي وسایلو او اسونو برابرول وو. د قریشو د سپرو ځواکونو قوماندان به هم له همدې قبیلې څخه ټاکل کېده. کله چې د حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه وار راغی، نو هغه د اوږدې مودې لپاره د سپرو ځواکونو مشري په ډېر ښه ډول ترسره کړه.

همدارنګه د پاتې پنځو برخو مسؤولیتونه هم د قریشو بېلابېلو قبایلو ته وسپارل شول.

حضرت هاشم د روم له قیصر سره سوداګریزې او سفارتي اړیکې جوړې کړې وې. په همدې لړ کې شام ته د سفر پر مهال یې د بني نجار له یوې عزتمندې مېرمنې سلمىٰ سره واده وکړ، خو له بده مرغه په همدې سفر کې حضرت هاشم وفات شو.

د هغه له وفات وروسته د هغه یو زوی پیدا شو چې نوم یې «شیبه» کېښودل شو، خو ځکه چې شیبه د هغه د تره مطلب بن عبد مناف له خوا روزل کېده، نو شیبه ته عبدالمطلب (د مطلب غلام) ویل کېدل، او وروسته تاریخ هم تل په همدې نوم یاد کړی دی.

حضرت عبدالمطلب ډېر ښکلی، وجیه او شاندار شخصیت درلود. الله تعالی هغه ته ډېر عزت ورکړی و او هغه د مکې د قریشو له تر ټولو مهمو مشرانو څخه وګرځېد.

د یوې مودې لپاره د هغه په اولاد کې یوازې یو زوی و چې نوم یې حارث و. حضرت عبدالمطلب ډېره هیله لرله چې ډېر اولاد ولري؛ نو نذر یې وکړ چې که الله تعالی ورته لس زامن ورکړي او هغوی ټول د ځوانۍ عمر ته ورسېږي، نو یو زوی به د الله تعالی په لار کې قرباني کړي.

الله تعالی د هغه دعا او نذر قبول کړ او هغه ته لس یا دولس زامن پیدا شول، چې په هغوی کې یو حضرت عبدالله هم و.

حضرت عبدالله د حضرت عبدالمطلب تر ټولو کشر زوی و او نه یوازې د خپل پلار، بلکې د ټولې کورنۍ ډېر ګران و. حضرت عبدالمطلب له هغه سره ډېره مینه لرله.

کله چې لس زامن پیدا شول او ټول د ځوانۍ عمر ته ورسېدل، حضرت عبدالمطلب ته خپل نذر ورپه یاد شو. نو خپل ټول زامن یې له ځان سره د کعبې حرم ته بوتلل. کله چې د عربو د ځانګړي دود له مخې قرعه واچول شوه، نو قرعه د حضرت عبدالله په نوم راووتله.

حضرت عبدالمطلب چې دا وليدل، ډېر پريشان شو؛ ځکه د ډېرې مينې له امله يې زړه نه غوښتل چې حضرت عبدالله قرباني کړي، خو له بلې خوا يې نذر منلی و او نه يې غوښتل چې له خپل نذر څخه سرغړونه وکړي. نو حضرت عبدالله يې له ځان سره واخيست او د قربانۍ ځای پر لور روان شو.

کله چې د بني هاشمو کورنۍ چې له حضرت عبدالله سره يې ډېره مينه لرله، له دې خبرې خبره شوه، نو ډېره پريشانه شوه. هغوی حضرت عبدالمطلب ته راغلل او ورته يې وويل چې په دې اړه د يثرب (مدينې) له يوې کاهنې ښځې سره مشوره وکړي. کله چې له هغې کاهنې سره اړيکه ونيول شوه، هغې د دې ستونزې حل داسې وړاندې کړ چې د حضرت عبدالله پر ځای دې فديه ورکړل شي.

په عربو کې د ديت (خون بها) په توګه لس اوښان ورکول کېدل؛ نو د حضرت عبدالله او لسو اوښانو ترمنځ دې قرعه اچول کېږي، او دا قرعه اچونه دې تر هغه وخته دوام وکړي، څو د قربانۍ قرعه د حضرت عبدالله پر ځای د اوښانو په نوم راووزي.

همداسې وشول او په پای کې په لسم ځل قرعه د حضرت عبدالله پر ځای د اوښانو په نوم راووتله. په دې توګه د حضرت عبدالله پر ځای سل اوښان قرباني شول.

د حضرت عبدالله واده د بني زهره د مشر وهب بن عبد مناف له لور، جنابې حضرت آمنې سره وشو، چې له هغې څخه د دواړو جهانونو تاجدار، حضرت محمد ﷺ، مبارک ولادت وشو.

مخکې له دې چې مورږ په رسمي ډول د سيرت بحث پيل کړو، اړينه ده چې لوستونکي د رسول الله ﷺ د مبارک ولادت پر مهال د مکې د قريشو له مذهبي، سياسي، ټولنيزو، اقتصادي او تمدني حالاتو سره آشنا کړو.

همدارنګه بايد له هغې پېښې «عام الفيل» څخه هم خبر شو، چې د رسول الله ﷺ له مبارک ولادت څخه يوازې پنځوس ورځې مخکې رامنځته شوې وه؛ هغه مهال حبشي نژاد ابرهه د کعبې شريفې د نړولو په اراده پر مکې برید وکړ.

(نور به ان شاءالله راتلونکې برخه کې وي)

سيرت المصطفىٰ — مولانا محمد ادريس کاندهلوي رحمه الله

په اسلام کې د وراثت عادلانه نظام

ليکوال: مفتی رؤف الله لوګري

زمونږ دا کلکه او پخه عقيده ده چې د« اسلام مقدس دين» د الله جل جلاله له طرف څخه رالیږل شوی« بر حق دين» دی، ټول بنيادي احکام يې دائمي ، او غير قابل ترميم دي، دا د کوم مخلوق ، يا پارلمان لخوا جوړ شوی قانون ندی ، څه د ضرورت په وخت کې په هغې کې تبديلي او تغيير راوستل شي ، او نوي نوي قوانين تصويب کړي ، حتی نبي کريم_ صلی الله عليه وسلم _ ته هم له خپل طرفه په دغه دين کې د تغيير او تبديل اختيار نوه ورکړی شوی، الله_ عز و جل _ فرمايي: و إذا تتلى عليهم آياتنا بينات قال الذين لا يرجون لقآئنا ائتِ بقرآنٍ غيرِ هذا او بدله قل ما يكون لي أن أبدله من تلقاء نفسي إن أتبع إلا ما يوحى إلي إني أخاف إن عصيت ربي عذاب يوم عظيم(يونس:١٥)

ژباړه: «کله چې هغوی ته زمونږ واضح آيتونه ويل کيږي ، نو هغه کسان چې زمونږ د ملاقات اميد نلري(يعني د دوباره ژوندي کيدلو قائل ندي) دا وايي: ددغه قرآن څخه علاوه بل قرآن راوړه، يا په دغه قرآن کې له خپل طرفه تبديلي وکړه، اي پيغمبره! صلی الله عليه وسلم ته دا جواب ورکړه، ما ته دا اختيار ندی راکول شوی چې له خپل طرفه په قرآن شريف کې تبديلي وکړم، زه صرف او صرف د هغه څه پيروی کوم چې ماته وحی کيږي، که چېرې زه د خپل رب نا فرماني وکړم،نو د قيامت د ورځې د عذاب څخه زما ويره او اندیښنه ده.»

ډير داسې مسائل دي چې اصول يې په اجمالي طور په قرآن شريف کې ذکر دي، او باقي تفصيلات يې په مبارکو احاديثو کې ذکر شوی ، لکه لمونځ، روزه ، زکات ، حج وغيره ، يا د مالي معاملاتو په اړه لاربښوونې .

ليکن هغه معاملې او مسائل چې په هغې کې نزاکت ، او حساسيت زيات وه، او دا اندیښنه وه چې په معاشره کې د اختلاف او انتشار سبب ګرځي ، لکه د وراثت موضوع ،د جاهليت په زمانه کې په وراثت کې حق تلفي يوه معمولي خبره وه، نو الله تعالی په نهايت تفصيل سره په جامع او مانع انداز کې د وراثت موضوع په قرآن شريف کې بيان کړي ده ، تر څو هر وارث ته خپل حق بغير د کمي او زياتي ورسيږي، او د خپلوانو په منځ کې دوستي او محبت دائم او قائم باقي پاتې شي ، چنانچه د وراثت مسائل ټول د قرآن شريف څخه په قطعي نصوصو ثابت دي ، قياس او اجتهاد ته پکې ضرورت نشته ، د څلورو مسئلو څخه علاوه د وراثت ټول مسائل په قطعي طور ثابت دي، نو له همدې امله د علماوو په مينځ کې د نورو مسائلو په مقابله کې پدې موضوع کې زيات اتفاق په نظر راځي، اختلافي مسائل ډير کم دي

د اسلام څخه علاوه په نورو مذاهبو او اديانو کې د وراثت په اړه کوم تصريحات،او روايات موجود دي ، هغه نا مکمل او ناقص ،او غير منصفانه دي، د نمونې په ډول بعضي ذکر کوو.

د مصر د فرعونيانو په دور کې د وراثت نظام

په مصر کې تر اوږدې زمانې پورې د فرعونيانو حکومت وه ، د دوی په حکومت کې د وراثت نظام په لاندې ډول وه:

مذکر او مؤنث دواړو ته برابر حصې ورکول کيدې، هيڅ مذکر د هيڅ مؤنث لپاره حاجب نه جوړيده.

هغو لمسيانو ته د حصې ورکولو قائل وه، چې پلار يې د بابا په ژوندانه وفات شوی وه.

په تقسيم کې يې د ميت فروع يعني اولاد يې مقدم کوه، د هغوی په موجوديت کې يې پلار او بابا ته حصه نه ورکوله.

د ښځې او ميړه په مينځ کې د وراثت قائل نوه.

هر کس ته په خپل ټول يا بعضي مال کې د وصيت مکمل اختيار حاصل وه. (تلخيص: مقدمه شريفيه ص :۸/_۹)

د وراثت نظام د هندوانو په مذهب کې

د هندوانو په پخوانيو مذهبي کتابونو کې د وراثت نظام په واضح ډول ندی بيان شوی، البته بعضي تيت او پراگنده روايات په مختلفو ماخذونو کې موجود دي ، البته په متعدد « منترو » او« اشلوکو» کې دا خبره موجوده ده چې ښځه نه د مور او پلار په جايداد کې د وراثت حق لري ، او نه د ميړه په جايداد کې ، ښځه صرف د هغه مال حقداره ده کوم څه چې د واده په وخت کې هغې ته ورکول کېږي ، البته هغو نجونو ته چې واده يې نوی شوی، د ضرورت په قدر هغوی ته د ورکولو خبره په «رگ وید » کې ليکل شوی.

په « منوسمرتي» کې ليکل شوي د مور د وفات څخه وروسته د هغې مال د سکه ورورنو او د هغو خويندو په منځ کې برابر تقسيم شي د کومو چې واده نوی شوی. (اسلام اور ہندو دھرم کا مطالعہ ص:426_430)

چونکه د هندوانو په مذهب کې د وراثت متوازن او مناسب نظام موجود نوه ، نو له همدې امله په کال/ ۱۹۵۸ ع کې د هندوستان پارلمان د « هندو قانون وراثت» په نوم يو قانون تصويب کړ ،د سړيو په اړه دا ماده وضعه شوه، د ميت که چېرې د اول درجې (اولاد) وارثين متعدد وه، نو ټولو ته برابر حصه ورکول کېږي ، د کوم زوی چې د پلار په ژوندانه کې وفات شوی وی ، د هغه وفات شوی زوی کوندې ته په ميراث کې حصه نه ورکول کېږي ، که چېرې د ميت اول درجه وارثين نوه ، نو مال به يې په ترتيب لاندې وارثينو ته ورکول کېږي ، ۱ _ پلار ۲_ د لمسې زوی ۳_ د لمسی لور ۴_ ورور ۵_ د دختري لمسې زوی٦_ د دختري لمسې لور ۷_ د دختري لمسی زوی ۸_ وراره ۹_ لمسې.

او د ښځو په هکله دا ماده وضعه شوه: د ښځې ترکه د هغې مذکر او مؤنث اولاد او خاوند باندې ويشل کېږي ، که چېرې خاوند نوه نو د هغه ورثه مستحق دي ،همدارنگه که مور او پلار نوی نو د هغوی ورثه مستحق دي.

په دغه قانون کې قتل ، او اختلاف دين د موانع ارث څخه ګڼل شوی.

په کال ۲۰۰۵ ع کې په دغه قانون کې يوه تبديلي راوستله : واده شوی او غير واده شوی نجونې د مورث په مال کې برابر د حصې حق لري. د ترميم با وجود په دغه قانون کې زياته تشنګي په نظر راځي.

(تلخيص: هندو قانون وراثت ، بحواله ويکيپېډيا ، آزاد دائرة المعارف)

د يهودو په مذهب کې د وراثت نظام:

د يهودو په مذهب کې د وراثت نظام په لاندې ډول دی.

سړيو ته د ښځو په مقابل کې مطلقا ترجيح حاصله ده، مطلب که چېرې د ميت زوی او لور وی نو ټول مال به زوی ته ورکول کېږي ، لور به محرومه وی.

ښځه د خاوند په مال کې هيڅ حق نلري، خاوند په هغه صورت کې چې اولاد ونلري يوازې د ښځې د ټول مال مستحق ګرځي ،او که اولاد وی بيا هم ترجيح ورته حاصله ده.

اولا ميراث د ميت فروع ته يعني اولاد ته ورکول کېږي ، که چېرې هغه موجود نوی بيا اصول ته يعني د ميت پلار او نيکه ته ورکول کېږي.

مشر زوی ته دوه چنده حصه ورکول کېږي.

د کومو لمسيانو پلار د نيکه په ژوندانه وفات شوی وی ، نو هغو لمسيانو ته هم د نيکه له مال څخه حصه ورکول کېږي.

د وصيت نظام د هغوی په مذهب کې نشته (تلخيص: مقدمه شريفيه ص:۱۸_۱۹)

د عيسايانو په مذهب کې د وراثت نظام

په انجيل کې د وراثت متعلق تصريحات نشته ، البته عيسايي مذهبي ادارو بعضي قوانين او ظوابط متعين کړي ، چنانچه د بازنطيني کليسائي وراثتي نظام څو اهم نکات:

د مذکر او مؤنث اولاد په منځ کې به تفريق نه کيږي.

که چيرې اولاد له يو څخه تر دريو پوري وی نو ښځې ته ۴/۱ څلورمه حصه ورکول کېږي ، که د اولاد تعداد څلور وی نو ښځې ته ۵/۱ پنځمه حصه ورکول کېږي ، که پنځه وی نو ښځې ته ۶/۱ شپږمه حصه ورکول کېږي ، خلاصه دا که اولاد له دريو څخه زيات وی ، نو اولاد او ښځې ته برابر حصه ورکول کېږي.

د ميت که چېرې اولاد نوی ، نور وارثين وی ، نو ښځې ته نيمايي حصه ورکول کېږي ، که نور وارثين نوی ، نو ټول مال ښځې ته ورکول کېږي.

کومې قاعدې د ښځې په باره کې دي ، هغه د خاوند په باره کې هم دي.

که چيرې د ميت هيڅ وارث نوی ، نو ټول مال به يې کليسا ته ورکول کېږي ، همدارنګه د راهبينو او پادريانو مال هم کليسا ته ورکول کېږي.

که چيرې ميت وارث يا غير وارث ته وصيت وکړي ، د وصيت نافذول ضروري دي. (الفرائض و المواريث للشيخ محمد الزحيلي ص/۲۳_۲۵)

د عربو په جاهلي دور کې د وراثت نظام

په عربو کې د اسلام د راتګ څخه مخکې د وراثت بنياد دری شيان وه : ۱_ نسبي قرابت (د ميت طرف ته منسوب بالغ اولاد ، که له نکاح پيدا وی يا له بد کاري څخه) ۲_ تبنی (پرورش ورکول) ۳_ تحالف (موالات).

په نسبي اعتبار سره عربو صرف سړيو ته ميراث ورکوه ، ښځو ته يې نه ورکوه، او وجه يې دا بيانوله، سړی جنګ کوی او ښځې يې نه کوی.

کوم ماشوم چې د چا خوښيده ، او دا اميد ورته پيدا کيده چې له دغه ماشوم څخه زما خاندان ته خير رسيږي، نو هغه به يې بغير د تکلف څخه متبني جوړوه، د حقيقي په اولاد په رقم هغه ته به يې هم په وراثت کې حصه ورکوله.

د جاهليت په زمانه کې د وراثت يو مهم سبب تحالف او موالات وه، يعني دوه کسانو به په خپل منځ کې دا عهد کوه ، چې مور د يو بل د مالي او جنايتي حقوقو ذمدار يوو ، او د يو بل وارث يوو.

د جاهليت په زمانه کې د ميرات په اړه بې انتها بې احتياطي او ظلم وه ، د ميت د وفات وروسته د هغه مال چې هر وارث ته په لاس ورغای، نو هغه به غنيمت ګڼلو، بالخصوص د يتيمانو حق تلفي زياته وه ، مشر زوی ،يا مشر ورور به زياتره په مال قبضه کوله، او کشران به يې محرومول.

په اسلام کې د وراثت عادلانه نظام

اسلام د پورته ذکر شويو غير منصفانه ، او ناقص نظامونو بر خلاف ، انسانيت ته د ترکې د تقسيم لپاره عادلانه او منصفانه نظام وړاندې کړ.

اولا دا حکم شوی وه چې هر کس د خپل وفات څخه مخکې خپلو قريبانو او رشته دارانو ته د خپل صواب ديد په اعتبار سره د خپل مال وصيت وکړي ، الله _عزوجل _فرمايي: كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِنْ تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ (البقرة: ۱۸۰)

ژباړه: په تاسې باندې کله چې د مرګ وخت نږدې شي، که چېرې هغه مال پرېښی وی، نو په هغه باندې والدينو او قريبانو ته په نيکه طريقه وصيت کول لازم دي ، په پرهيز ګارانو دا کار کول ضروري دي.

له دې وروسته په سورة نساء کې يو اجمالي حکم وشو : الله _ عزوجل _فرمايي: لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ ، وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ : نَصِيبًا مَفْرُوضًا (النساء :٧)

ژباړه: د سړيو لپاره حصه ده د هغه مال څخه چې والدينو يا قريبانو پريښې وي، د ښځو لپاره هم حصه ده د هغه مال څخه کوم چې والدينو يا قريبانو پريښې وي ، کم وي او که زيات، او هغه حصه مقرره ده.

او په آخر کې د سورة نساء دوه طويل آيتونو کې د ټولو حصه دارانو حصې په نهايت تفصيل او وضاحت سره بيان شوی ، په هغې کې د تغيير او تبديل هيڅ ګنجايش نشته.

يُوصِيكُمُ اللهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ فَإِنْ كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ فَإِنْ كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُنَّ وَلَدٌ ۚ فَإِنْ كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَا أَوْدَيْنٍ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكُمْ وَلَدٌ ۚ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً أَوِ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ فَإِنْ كَانُوا أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ فَهُمْ شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَى بِهَا أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَارٍّ ۚ وَصِيَّةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ)

(سورة النساء:١١_١٣)

د مذکوره تفصيل سره د وارثنو حصې بيانول صرف او صرف د اسلام امتياز او خصوصيت دی ، د دنيا په هيڅ مذهب کې د وراثت متعلق داسې تفصيلات نشته ، خاصه خبره دا ده چې د شريعت په نظر کې د وراثت په مال کې د وارثنو ملکيت په غير اختياري توګه جبرا ثابتيږي، هيڅوک يې نشي منع کولای، او د هيچا په خوښی موقوف نده.

(مستفاد: كتاب الفرائض للمفتي محمد سلمان المنصورپوري _حفظه الله _ص :٣٤_٤٣)

رؤف الله اللوجري

٢٠/٢/١٤٤٨

علم الكلام

محقق العصر حضرت مولانا ثناء الله صفدر حفظه الله

دويم درس:

اشاعره، ماتريديه او د علم الكلام دوه ستر امامان.

محقق العصر مولانا محمد ادريس كاندهلوي رحمه الله فرمايي:

په اعتقادي مسائلو كې د اهل السنة والجماعة دوې ډلې دي: اشاعره او ماتريديه. اشاعره د امام ابو الحسن اشعري رحمه الله وطرف ته منسوب جماعت دي. چې په څلورو واسطو د حضرت ابوموسى اشعري رضي الله عنه داولاده څخه دى. (هغه په ٢٦٠هـ يا ٢٧٠ هـ كې د بصرې په ښار كې پيدا سوى دى، لومړى قول ډېر مشهور دى، او په ٣٣٠هـ كال كې د بغداد په ښار كې وفات شوى.)

هغه كسان چې په اعتقادي مسائلو كې د امام ابو الحسن اشعري پيروي كوي، هغوى ته "اشعري، اشعريه او اشاعره" ويل كېږي.

او هغه كسان چې په اعتقادي امورو كې د امام ابو منصور ماتريدي رحمه الله پر طريقه باندې روان دي، هغوى ته "ماتريدي" ويل كېږي. امام ابو منصور ماتريدي رحمه په درې واسطو د امام محمد بن حسن شيبانى شاگرد دى، او امام محمد رحمه الله بيا د امام ابو حنيفه رحمه الله خاص شاگرد دي، او د امام شافعي رحمه الله استاد و. (امام ماتريدي سمرقند ښار ته نږدې د "ماترید" په نامه كلي كې پيدا سوى دى. سمرقند د ماوراءالنهر په سيمه كې واقع دى. دده دپيدائش په اړه يقيني خبره نه سي كېدلى، خو له قرائنو ښكاري چې دي په ٢٣٨هـ كې، يا لږ مخكې او يا لږ وروسته پيدا سوى وي. دده وفات په ٣٣٣هـ كال كې په سمرقند كې سوى دي.)

امام ابو الحسن اشعري او امام ابو منصور ماتريدي رحمهما الله دواړو د اصول دين او اعتقادي مسائلو په اړه ډېر د ژور تحقيق تدقيق څخه كار اخيستي دي.او د دلائل عقليه او نقليو په مټ يې د اسلامي عقائدو اثبات كړى دي او د ملاحده او زنادیقه و داعتراضاتو او شكوكو يې د عقل او نقل له لارې ابطال كړي دي، چې په نتيجه كې د صحابهوو او تابعينو مسلک ښه روښانه سو.

له همدې امله د اهل سنت والجماعت مذهب په همدې دوو سترو امامانو پورې محصور سو. د امام ابو الحسن اشعري او امام ابو منصور ماتريدي د ظهور وروسته، د ائمه ثلاثه (امام مالک، امام شافعي او امام احمد) اصحابو خپل نوم "اشعريه" كېښې ښودي، او د امام ابو حنيفه اصحابو خپل ځان ته "ماتريديه" ويل پيل كړل. په حقيقت كې د دې دواړو ډلو مذهب هغه دى كوم چې د صحابه كرامو، تابعينو او ائمه مجتهدينو څخه ثابت دى. د دې دواړو امامانو تر منځ يوازې په دولسو مسائلو كې اختلاف دى، او هغه هم حقيقي اختلاف نه دى، بلكې لفظي او صوري اختلاف دى، او هغه هم په داسې مسائلو كې دى

چې په قرآن او سنت کې پرې څرګنده تصريح نشته، او له صحابه‌وو څخه هم په دې اړه څرګنده خبره نه ده نقل سوې.

د اهل سنت والجماعت يو خصوصيت دا دي چې دوي د صحابه کرامو او اهل بيت تر منځ توپير نه کوي او هېڅ يو ته بد نه وايي، بلکې د ټولو مينه د ايمان جزء ګڼي.په خلاف د خوارجو چې دوي د اهل بيت دښمنان دي، او روافض د صحابه کرامو دښمنان دي ددوي قول او فعل حجت نه ګڼي.

اهل سنت والجماعت د صحابه کرامو او اهل بيت مينه د ايمان برخه ګڼي او د صحابه‌وو اجماع او اتفاق حجت بولي. امام عبدالقاهر بغدادي رحمه الله فرمايي: هغه څوک چې د صحابه‌وو اجماع حجت ونه ګڼي، او پر ضلالت او ګمراهي د ددوي اجتماع روا وبولي، او ددوي مخالفت روا وبولي، هغه د صحابه‌وو د ډلې پيرو نه دی. وګورئ: کتاب« الفرق بين الفرق» ص ۳۱۹. بيا امام عبدالقاهر بغدادي په همدې کتاب کې پر ص ۳۲۸ باندې فرمايي: څوک چې د صحابه‌وو اجماع حجت ونه ګڼي، هغه کافر دی.

بحواله(عقائد اسلام، حصه اول، مخ ۲۵۵، په لږ ترميم سره)

د دارالعلوم ديوبند تر ټولو لومړنی فارغ التحصيل

په (۱۹) ذی قعده (۱۲۹۰هـ مطابق (۹) جنوري (۱۸۷۴) تر ټولو لومړی لاندې پنځو حضراتو د دارالعلوم ديوبند څخه د تکميل سند او د فضيلت دستار حاصل کړ:

(۱) سيدنا شيخ الهند حضرت مولانا محمود حسن ديوبندي رحمه الله.

(۲) حضرت مولانا عبدالحق ساکن پور قاضي رحمه الله.

(۳) حضرت مولانا فخرالحسن ګنګوهي رحمه الله.

(۴) مولانا فتح محمد تهانوي رحمه الله.

(۵) او مولانا عبدالله جلال آبادي رحمه الله.

(دارالعلوم ديوبند او علماء ديوبند ص ٦٦)

په تبليغي جماعت د اعتراضاتو جوابات

استاد مفتي مغفور الله نعماني حفظه الله

دويمه برخه

اعتراض نمبر ۱: تبليغيان د جهاد احاديث په خپل تبليغي کار تطبيقوي
له هغو اشکالونو څخه تر ټولو مهم او ډېر تکرارېدونکی اعتراض، چې په اړه به يې ماته تر سلو زيات ليکونه راغلي وي. تر ټولو مهم اعتراض دا دی، چې تبليغيان د جهاد احاديث د خپلو تبليغي سفرونو د تائيد لپاره وړاندې کوي. د حيرانتيا خبره دا ده، چې دا اعتراض د عامو خلکو پر ځای زياتره د علماوو له خوا شوی دی. د علماوو له خوا د دې ډول اعتراضونو راتلل لا ډېر د تعجب وړ دي.

ځکه که څه هم د جهاد په سفرونو کې جګړه (قتال) د خلکو په عرف کې ډېره مشهوره ده، خو لغت او شرعي نصوص جهاد يوازې تر جګړې پورې نه محدودوي. د جهاد اصلي مانا د اعلاء کلمة الله (الله د کلمې د لوړولو هڅه ده)، چې جګړه يې اضطراري درجه او وروستی پړاو دی. نو جګړه اصل مقصد نه دی، (بلکې د اړتيا پر مهال کارول کېږي).

په تفسير مظهری کې يې د دې آيت: "كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِتَالُ وَهُوَ كُرْهٌ لَّكُمْ" په تفسير کې ليکلي دي، چې د جهاد فضيلت پر ټولو نېکو کارونو ځکه زيات دی، چې دا د اسلام د اشاعت او د خلکو د هدايت سبب ګرځي. نو هر څوک چې د دې مجاهدينو په هڅو هدايت ومومي، د هغه نېکۍ هم د دوی په اعمالو کې شاملېږي. او له دې نه هم زيات غوره کار د ظاهري او باطني علومو زده کړه او ښوونه ده، ځکه په دې کې د اسلام د حقيقت لا زيات اشاعت دی. فقط.

په دې زمانه کې د تبليغ له لارې چې څومره هدايت خپور شوی او لا هم خپرېږي، دا داسې حقيقت دی، چې حتی سخت مخالفين هم انکار نه شي ترې کولی. زرګونه، بلکې لکونه بې‌لمانځه خلک پاخه لمونځ کوونکي وګرځېدل، او سلګونه (بلکې لکونه) غيرمسلمانان د همدې خلکو په لاسونو او هڅو مسلمانان شوي دي.

د جهاد لغوي او شرعي تحقيق ما د خپلو کتابونو "أوجز المسالک شرح موطأ الإمام مالک" او "لامع الدراري علی جامع البخاري" په حاشيه کې په تفصيل سره بيان کړی دی. د "جهاد" لغوي معنی د مشقت او زحمت برداشت کول دي. په شرعي اصطلاح کې جهاد د کافرانو پر وړاندې جګړې ته هم ويل کېږي، او د دې اطلاق پر لاندې ډولونو هم راځي: د نفس (ځان) سره مبارزه، د شيطان پر وړاندې مبارزه، او له فاسقو خلکو سره مقابله. او بيا له کافرانو سره جهاد هم په بېلابېلو طريقو کېږي: په لاس سره هم کېږي(عمل، قتال)، په ژبې سره هم کېږي (وينا)، او په مال سره هم کيږي(مالي مرسته). په قرآن کريم او حديثونو کې دا ډول آيتونه او روايتونه ډېر زيات راغلي دي.

د رسول الله ﷺ ارشاد دی: «المجاهد من جاهد نفسه»

ژباړه: «ریښتینی مجاهد هغه دی چې له خپل نفس سره جهاد وکړي». «مشکوة شریف» کې دا روایت د (شعب الإیمانللبیهقي) په حوالې سره نقل شوی دی.

ابن عربي رحمه الله د «ترمذي شریف» په شرح کې لیکلي دي، چې د صوفیانو په نزد «لوی جهاد» د نفس سره جهاد دی. د قرآن کریم دا آیت همدې ته اشاره کوي: **سمح**وَٱلَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهۡدِيَنَّهُمۡ سُبُلَنَاۚ **سجی** (العنکبوت: 69).

ژباړه: او هغه کسان چې زمونږ په لاره کې هڅه (جهاد) کوي، مونږ به خامخا هغوی ته خپلې لارې وښیو.

او په حدیث پاک کې راغلیدي: اصلي مجاهد هغه نه دی چې له لېرې دښمن سره جګړه وکړي، بلکې اصلي مجاهد هغه دی چې له هغه دښمن سره مبارزه وکړي چې هر وخت ورسره وي (یعنې نفس). (بل حدیث کې دي): کله چې رسول الله ﷺ له یوې غزا څخه راستون شو، نو ویې فرمایل: "رجعنا من الجهاد الأصغر إلى الجهاد الأكبر"

ژباړه: مونږ له کوچني جهاد څخه لوی جهاد ته راستانه شو. إلى آخر ما بسط في «الأوجز». دلته څرګنده ده چې د «لوی جهاد» مصداق جهاد بالسیف (د تورو او وسلو جګړه) او جهاد مع الکفار (له کافرانو سره جګړه) نه ده.

د «سبیل الله» کلمه عامه ده

په دې کې (بله خبره) دا هم ده، چې علامه باجي رحمه الله لیکي دي: د سبیل الله لفظ عام دی، ټولو نېکو کارونو ته شامل ده. "رجعنا من الجهاد الأصغر إلى الجهاد الأكبر" دغه حدیث په مختلفو طرقو سره نقل شوی دی. که علماء کرام یې حواله غواړي، نو د «لامع الدراري» پر حاشیه دې یې وګوري.

حضرت مولانا اشرف علي تهانوي نور الله مرقده په خپل کتاب «التشرف بمعرفة أحاديث التصوف» کې د تفسیر «روح المعاني» څخه نقل کړی، چې د قرآن کریم د دې آیت: **سمح**وَجَٰهِدُواْ فِي ٱللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِۦۚ **سجی** (الحج: 78) په تفسیر کې یې د حضرت جابر رضی الله عنه روایت نقل کړی دی، چې وایي: رسول الله ﷺ ته یوه ډله له یوې غزا څخه راستنه شوه، نو نبي کریم ﷺ وفرمایل: «تاسو ډېر ښه راغلئ، له کوچني جهاد څخه لوی جهاد ته راستانه شوئ».

په دې روایتونو کې چې کومه لږه څه کمزوري (ضعف) ده، هغه خو لومړی د فضائلو په بیان کې دا ډول کمزوري مغفتر (بښل) کېږي، او په تعدد الطرق سره مندفع کېږي. (یعنې له منځه ځي). علماوو په دې تصریح کړې ده۔ لکه څنګه چې د (لامع الدراري) په حاشیه کې راغلي۔ چې: فرض عبادتونه لکه: لمونځ، روژه، وغیره...؛ ځکه تر جهاد غوره دي، چې دا پخپله مقاصد لعینه دي. د جهاد اصلي موخه دا ده، چې خلک پر ایمان او نېکو عملونو راوستل شي (یعنې مقصود لغیره دی).

د «لامع الدراري» په حاشيه کې يې له ابن عابدين رحمه الله نقل کړی ده، چې: په دې کې يوه ذره شک هم نشته چې په خپل وخت کې د فرض عبادتونو پر ادا کولو مواظبت له جهاد څخه غوره دی؛ ځکه: هغه (فرض عبادتونه) فرض عين دي او جهاد فرض کفايه دی، او جهاد په اصل کې يوازې د دې لپاره مشروع شوی چې: ايمان او لمونځ قائم شي؛ نو ځکه د جهاد حسن لغيره دی او د لمانځه حسن لعينه دی؛ له همدې امله لمونځ او نور فرض عبادتونه تر جهاد غوره دي. او ښکاره ده، چې هره هغه هڅه چې د لمانځه او نورو عبادتونو د قائمولو لپاره کېږي، هغه به هم د افضل الجهاد (غوره جهاد) په حکم کې شمېرل کېږي.

امام بخاري رحمه الله د جمعې لمانځه ته د پياده تلو په اړه په «باب المشی إلى الجمعة» کې د حضرت ابو عبس رضی الله عنه حديث ذکر کړی: (مَنِ اغْبَرَّتْ قَدَمَاهُ فِي سَبِيلِ الله حرمه الله على النار).

ژباړه: هغه څوک چې د الله په لاره کې د هغه پښې په دوړو ککړې شي، الله تعالى به پرې د دوزخ اور حرام کړي.

که امام بحاري رحمه الله له دې حديث څخه جمعې لمانځه ته د پياده تگ پر فضيلت استدلال کولی شي، نو که مبلغين هم د الله په لاره کې د الله د دين د لوړولو (اعلاء كلمة الله) د خدمت لپاره په تگ راتگ کې له همدې حديث څخه استدلال وکړي، نو پر هغوی څه الزام کېدای شي؟

حضرت مولانا محمد الياس دهلوي رحمه الله په خپلو ويناوو کې فرمايي:

«دا سفر (يعنې د تبليغ سفر) د غزاګانو د سفر ځانګړتياوې له ځانه سره لري، او له همدې امله تمه هم د هماغه ډول د اجر ده. که څه هم دا قتال نه ده، خو د جهاد يو فرد بيا ضرور ده. په بعضې حيثياتو سره که څه هم له جهاد کمتر دی، خو په ځينې نورو اعتبارونو تر جهاد هم اعلى او لوړ دی، لکه: دا چې په قتال کې د غصې سړول او د غصب د شعلې اطفا وي، خو دلته يوازې د الله لپاره غصه قابو کول (كظم الغيظ) وي او د الله تعالى د دين لپاره د خلکو په پښو کې ځان غورځول وي، هغوی ته منتونه او خوشامدونه (چاپلوسی) کول وي، بس ځان ذليله کول وي».

د حضرت دهلوي رحمه الله ارشاد دی، چې په جهاد کې د د غضب اطفاء (غصې سړول) هم وي. د حضرت ابو موسى اشعري رضي الله عنه له هغه روايت څخه څرګندېږي چې په صحيح البخاري کې راغلی ده. هغه فرمايي: يو سړي له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې يو څوک د غنيمت لپاره جګړه کوي او بل د خپل زور ښودلو لپاره، (نو په دې کې د الله په لاره کې جهاد کوم يو دی؟)، رسول الله ﷺ وفرمايل: چې في سبيل الله جهاد هغه دی، چې د اعلاء كلمة الله لپاره وي.

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي چې د «كلمة الله» څخه مراد دعوت الى الاسلام دی. هغه دا هم فرمايي: چې په دې حديث کې، چې کوم وجوه وارد شوي دي، په هغې کې لکه: ريا او شهرت هم راغلي، او په يوه روايت کې «حمية» هم راغلی، او په يوه روايت کې «يقاتل غضبا» هم راغلی، يعنې ځينې خلک د خپل نفس لپاره يا د غصې د سړولو لپاره جګړه کوي. هغوی ليکي چې: په دې رواياتو کې پنځه وجوه ذکر شوي دي.

پخپله د رسول الله ﷺ له لوري د جهاد اطلاق له قتال پرته په نورو هغه امورو باندې په کثرت سره په حديثونو کې شوی دی، چې هغه په دې مقصد کې معين او مددګار وي، کوم چې له اهلِ علم څخه پټ نه دي. د نبي کريم ﷺ ارشاد دی، چې: «د اسلام په سرحد کې يوه شپه ويښ پاتې کېدل د دنيا او د دنيا له ټولو شيانو غوره دي». او پر سرحد پاتې کېدل، ښکاره ده، چې د اسلام د حفاظت لپاره دي.

د رسول الله ﷺ ارشاد دی، چې «څوک د يو غازي مرسته وکړي، هغه هم غازي دی، او څوک چې د هغه په غياب کې د هغه د کورنۍ خيال وساتي، هغه هم غازي دی». رسول الله ﷺ يو ليښکر ولېږه او ويې فرمايل: چې له هر دوو کسانو څخه دې يو لاړ شي (او بل دې د هغه د کورنۍ خيال وساتي) ثواب به د دواړو شريک وي.

جريان لري....

د «حنفي فقهي» اطلاق د چا په اقوالو کيږي؟

راټولونه: محمود الحسن ديوبندي أصلح الله شأنه

مأخذ: تكوين المذهب الحنفي مع تأملات في ضوابط المفتى به

ليکوال: دوکتور سائد بکداش.

د «فقه حنفي» اصطلاح چې کله استعمالېږي، يوه مهمه پوښتنه ورسره تړلې ده: آيا له «فقه حنفي» څخه يوازې د امام ابوحنيفه رحمه الله فقهي اقوال مراد دي، او که د هغه د جليل‌القدر شاګردانو، امام ابويوسف او امام محمد رحمهما الله، اقوال هم په دې اصطلاح کې شامل دي؟

دا موضوع يوازې لفظي او اصطلاحي بحث نه دی؛ بلکې د حنفي مذهب د تشکيل، تدوين، د اقوالو د تصحيح او ترجيح او د «مذهب» د مفهوم له مهمو مسئلو سره تړاو لري.

په دې وروستيو کې د فقهي څېړنو د معاصرې علمي نړۍ مشهور محقق سائد بکداش په خپله سل مخيزه رساله «تكوين المذهب الحنفي مع تأملات فى ضوابط المفتى به» کې دا مسئله په پراخه تاريخي او فقهي څېړنه کې څېړلې ده. نوموړي د دې رسالې د موادو د راټولولو لپاره، د مقدمې له مخې، لس کاله وخت تېر کړی دی. د نوموړي د دې څېړنې له مخې، د «فقه حنفي» د اصطلاح په اړه د حنفي فقهاوو په ويناوو کې دوه اساسي ليدلوري موندل کېږي.

لومړی نظر: د صاحبينو اقوال هم د فقه حنفي برخه دي

د دې نظر له مخې، امام ابويوسف او امام محمد رحمهما الله که څه هم د امام ابوحنيفه رحمه الله ستر شاګردان دي، خو د هغوی فقهي اقوال هم د «فقه حنفي» په نوم کې داخلېږي.

د دې نظر د وضاحت لپاره ويل شوي چې صاحبين مجتهد منتسب دي؛ يعنې خپل اجتهاد يې د امام ابوحنيفه رحمه الله له اصولو سره تړلی دی. له همدې امله د هغوی فقهي اقوال هم د امام ابوحنيفه رحمه الله د مذهب په ضمن کې راځي.

علامه عبدالغني نابلسي رحمه الله او ځينو نورو فقهاوو د دې نظر ملاتړ کړی او د صاحبينو د اقوالو د حنفي مذهب ګڼلو لپاره يې دوه مهم دليلونه ذکر کړي دي:

لومړی: صاحبينو د امام ابوحنيفه رحمه الله له خوا ايښودل شويو اصولو پر بنسټ ډېر فقهي مسائل تخريج کړي دي.

دويم: د صاحبينو ډېر اقوال په حقيقت کې د امام ابوحنيفه رحمه الله هغه اقوال دي چې امام صاحب وروسته تري رجوع کړې وه.

له همدې امله، که د صاحبينو ځينې اقوال په اصل کې د امام ابوحنيفه رحمه الله اقوال وي، نو د هغوی د اقوالو اختيار او پر هغو عمل کول هم د امام ابوحنيفه رحمه الله پر قول عمل ګڼل کېږي.

د دې نظر پر بنسټ، که يو مقلد د امام ابويوسف يا امام محمد رحمهما الله پر يوه قول عمل وکړي، بيا هم هغه د حنفي فقهې پيرو بلل کېږي.

د دې نظر له مهمو بنسټونو څخه د ابن کمال پاشا رحمه الله طبقاتي تقسيم هم دی، چې صاحبين يې د «مجتهد منتسب» په طبقه کې راوستي دي.

د دې نظر په اړه مهم نقد:

خو سائد بکداش د دې ځواب په اړه د ګڼو حنفي فقهاوو نقد رااخلي او خپله هم پرې مهمې علمي نيوکې کوي.

د نوموړي په اند، د دې نظر يوه مهمه ستونزه دا ده چې د ابن کمال پاشا رحمه الله طبقاتي تقسيم وروسته راغلو ګڼو علماوو نقد او رد کړی دی.

له دې پرته، د صاحبينو د «مجتهد منتسب» ګڼلو په اړه هم جدي علمي بحث شته؛ ځکه د حنفي فقهې اصول او فروع ښيي چې امام ابويوسف او امام محمد رحمهما الله په ډېرو مسئلو کې له امام ابوحنيفه رحمه الله سره پراخ اختلاف کړی دی؛ نه يوازې په فروعو کې، بلکې په ځينو اصولي مسائلو کې هم.

حال دا چې د «مجتهد منتسب» له مفهوم سره دا خبره مناسبت نه لري چې يو مجتهد دې په پراخه کچه په اصولو کې له خپل متبوع امام سره مخالفت وکړي.

له همدې امله، د صاحبينو مقام د مستقلو مجتهدينو په توګه ګڼل د دې لپاره قوي دليل دی چې هغوی يوازې د امام ابوحنيفه رحمه الله د اقوالو ناقلين او فرعي مجتهدين نه وو.

دويم نظر: امام ابوحنيفه، امام ابويوسف او امام محمد؛ درې واړه مستقل مجتهدان دي:

د حنفي فقهاوو په عبارتونو کې د دې مسئلې بل ځواب هم موندل کېږي، او هغه دا دی چې امام ابوحنيفه، امام ابويوسف او امام محمد رحمهما الله درې واړه مستقل مجتهدان وو.

د دې نظر له مخې، «فقه حنفي» د دغو درې واړو د اجتهادي اقوالو مجموعه ده.

يعنې که څه هم امام ابويوسف او امام محمد رحمهما الله مستقل مجتهدان وو، خو د تغليب او اصطلاح له مخې د هغوی د اجتهادونو مجموعه هم «فقه حنفي» بلل شوې ده.

د دې نظر پلويان وايي چې په اصطلاحاتو کې د نوماښنودنې بحث ډېر سخت نه شي کېدای؛ ځکه يوه علمي ډله کولای شي د يو ځانګړي عرف له مخې يوې مجموعې ته ځانګړی نوم ورکړي.

خو سائد بکداش د دې نظر په اړه هم جدي تأمل لري.

د نوموړي په اند، که د «فقه حنفي» اصطلاح خپل حقيقي مفهوم ته وکتل شي، نو اصلاً بايد د امام ابوحنيفه رحمه الله پر اقوالو اطلاق شي؛ ځکه د حنفي فقهې مقلدينو په اصل کې د امام ابوحنيفه رحمه الله د تقليد التزام کړی دی.

له همدې امله، د دې اصطلاح پراخول او د امام ابويوسف او امام محمد رحمهما الله ټول اقوال په کې داخلول هم له علمي او هم له عملي پلوه د بحث وړ دي.

بل مهم ټکی دا دی چې دا مسئله يوازې د «عرفي اصطلاح» په نوم هم نه شي حل کېدای؛ ځکه د حنفي مذهب په لومړنيو او متقدمو فقهي کتابونو کې داسې څرګند صراحت نه ترسترګو کېږي چې د «فقه حنفي» په اطلاق کې دې د امام ابويوسف او امام محمد رحمهما الله ټول فقهي اقوال هم شامل وي.

نو يوازې دا چې متأخرينو د امام او صاحبينو اقوال سره يوځای کړي او د هغوی ترمنځ يې تصحيح او ترجيح کړې، په خپله دا معنا نه لري چې «فقه حنفي» له لومړي سره همداسې اصطلاح وه.

د دې لپاره بايد د مذهب د لومړنيو بنسټګرو او مدونينو له لوري څرګنده علمي تصريح موجوده وي.

د مسئلې تاريخي جاج

د دې موضوع د روښانتيا لپاره بايد د حنفي فقهې د لومړني تدوين تاريخ ته وکتل شي.

۱ -امام محمد رحمه الله د» مذهب «اصطلاح د هر امام لپاره جلا استعمالوي

امام ابوحنيفه رحمه الله خپل ټول فقهي اجتهادونه په خپله په يوه منظم کتاب کې نه دي مدون کړي؛ بلکې د هغه ستر شاګرد امام محمد رحمه الله د امام صاحب فقهي ميراث په تدوين کې بنسټيز رول درلود.

د امام محمد رحمه الله په «ظاهر الرواية» کتابونو کې يو د پام وړ طرز دا دی چې هغه د امام ابوحنيفه، امام ابويوسف او خپل قول ته جلا جلا د «مذهب» تعبير کاروي:

· مذهب أبي حنيفة · مذهب أبي يوسف · مذهب محمد

دا طرز په خپله ښيي چې امام محمد رحمه الله د دغو درې واړو فقهي اقوال له يو بل څخه جلا ګڼل.

که د ده په نظر د درې واړو اقوال له لومړي سره يو واحد «مذهب حنفي» وای، نو د هر يوه لپاره د «مذهب» مستقل استعمال به دومره څرګند نه و.

۲ -امام محمد رحمه الله د درې واړو اقوال په تقابلي ډول راوړي

امام محمد رحمه الله په خپلو کتابونو کې د امام ابوحنيفه، امام ابويوسف او خپل اقوال په ډېرو مواردو کې د ترجيح پرته په مقارن او تقابلي ډول ذکر کړي دي.

له دې څخه دا خبره څرګندېږي چې د امام محمد رحمه الله په طرز کې د خپل استاد امام ابوحنيفه رحمه الله او د خپلو او د نورو اصحابو اقوال یو شی ګڼل او بیا د هغوی ترمنځ تصحیح او ترجیح کول د هغه اساسي منهج نه و.

د متونو او مختصراتو طرز څه ښیي؟

د امام محمد رحمه الله کتابونه د حنفي فقهې د «امهات» حیثیت غوره کړ. وروسته فقهاوو د دغو کتابونو د تلخیص، شرح، تخریج او تنظیم پراخه لړۍ پیل کړه.

په دې مرحله کې د متقدمو حنفي فقهاوو په کتابونو کې د امام ابوحنيفه رحمه الله د قول تصحیح او ترجیح ته ځانګړې پاملرنه لیدل کېږي.

۳ -د حنفي فقهې متون دوه ډوله دي

په حنفي فقه کې داسې متون او مختصرات لیکل شوي چې په اصل کې یې د امام ابوحنيفه رحمه الله اقوال راوړي دي.

له دې ډلې څخه:

۰ المختار د علامه موصلي رحمه الله

کنز الدقائق د علامه نسفي رحمه الله

دا دواړه د حنفي فقهې له مهمو او بنسټیزو متونو څخه دي.

د دغو کتابونو د مؤلفینو طرز دا څرګندوي چې د هغوی په ذهن کې د «حنفي فقهې» اصل د امام ابوحنيفه رحمه الله فقهي اقوال دي.

په مقابل کې ځینې نور متون، لکه مختصر القدوري، د امام ابوحنيفه رحمه الله د اقوالو ترڅنګ د امام ابویوسف او امام محمد رحمهما الله اقوال هم راوړي دي.

خو د قدوري رحمه الله طرز د دې لپاره نه دی چې د صاحبینو ټول اقوال د امام صاحب د مذهب عین برخه وښیي؛ بلکې هغه لومړی د امام ابوحنيفه رحمه الله قول د اصل مذهب په توګه راوړي او بیا د تقابلي فقې په ډول د صاحبینو او نورو ائمهوو اقوال هم ذکر کوي.

د مختصر القدوري شروح هم د همدې منهج تأیید کوي.

نو د دغو متونو او مختصراتو طرز دا څرګندوي چې د «فقه حنفي» اصل اطلاق د امام ابوحنيفه رحمه الله پر اقوالو و.

۴ -د متونو شروح هم د امام صاحب د قول تصحيح او ترجيح کوي

د دغو متونو او مختصراتو په مشهورو شروحو کې هم د امام ابوحنيفه رحمه الله د قول د تصحيح او ترجيح لپاره دلايل وړاندې شوي دي.

د بېلګې په توګه:

۰ د امام جصاص رحمه الله شرح مختصر الطحاوي

د قاسم بن قطلوبغا رحمه الله تصحيح القدوري

۰ او نور فقهي آثار.

د دې کتابونو طرز هم دا څرګندوي چې د امام صاحب قول د مذهب د اصلي قول په توګه مطرح و، او د نورو اقوالو په نسبت يې د تصحيح او ترجيح بحث کېده.

۵ -د امام قدوري رحمه الله د «قول المخالف» تعبير

د «التجريد» د کتاب مؤلف امام قدوري رحمه الله داسې طرز غوره کړی چې کله د امام ابوحنيفه رحمه الله قول ثابت کړي، بيا د امام ابويوسف، امام محمد او نورو فقهاوو اقوالو ته د «قول المخالف» تعبير کاروي او د هغوی دلايل د امام صاحب له اړخه ځوابوي.

دا طرز ډېر مهم دی؛ ځکه امام قدوري رحمه الله د حنفي فقهې له بنسټيزو متونو څخه د يوه مهم کتاب مؤلف دی.

د هغه دا طرز په څرګنده توګه دا ښيي چې د ده په اصطلاح کې د حنفي فقهې اصل د امام ابوحنيفه رحمه الله قول دی، او د صاحبينو اقوال د هغه په مقابل کې د «مخالف» په عنوان هم مطرح کېدای شي.

٦ -د فتوا په اړه د حنفي فقهاوو صريحې ويناوې

له دې پرته، د ګڼ شمېر حنفي فقهاوو څرګندې ويناوې شته چې په مطلق ډول د امام ابوحنيفه رحمه الله پر قول د فتوا ورکولو خبره کوي؛ البته د اړتيا او ضرورت په صورت کې د صاحبينو اقوالو ته د رجوع اجازه ورکوي.

په دې لړ کې د شپږمې هجري پېړۍ حنفي عالم احمد بن محمود الحلبي، د اوومې پېړۍ علامه موصلي، د اتمې پېړۍ علامه نسفي، د نهمې پېړۍ قاسم بن قطلوبغا، د «الدر المختار» مؤلف علامه حصکفي، د «البحر الرائق» مؤلف ابن نجيم، ابن عابدين شامي او علامه لکنوي رحمهم الله د داسې ويناوو خاوندان دي چې په هغو کې د امام ابوحنيفه رحمه الله قول په مطلق ډول د ترجيح وړ ښودل شوی دی.

البته، کله ناکله د اړتیا له امله د صاحبینو قول ته رجوع شوې ده؛ خو دا خبره په خپله دا نه ثابتوي چې د صاحبینو هر قول دې د «فقه حنفي» عین برخه وي.

ځکه په هر فقهي مذهب کې کله ناکله د اصلي امام له قول څخه د اړتیا، مصلحت یا بل فقهي دلیل له مخې د نورو مجتهدینو اقوالو ته رجوع شوې ده.

۷ -د«فقه حنفي» د پراخ مفهوم د رامنځته کېدو په اړه یو مهم تاریخي ټکی

د سائد بکداش د دې څېړنې له مخې، د امام ابوحنیفه رحمه الله او صاحبینو د اقوالو د یوځای کولو، او د دغو دریو واړو ترمنځ د تصحیح او ترجیح د منظم طرز بنسټ په څرګند ډول د صاحب هدایه رحمه الله په آثار کې ډېر روښانه کېږي.

هغه په خپل متن «بداية المبتدي» او د هغه په شرح «الهداية» کې د امام ابوحنیفه، امام ابویوسف او امام محمد رحمهم الله اقوال په یوه منظم فقهي متن کې سره راټول کړي او په بېلابېلو مسئلو کې یې د دغو دریو واړو ائمهوو ترمنځ د تصحیح او ترجیح طرز غوره کړی دی.

له صاحب هدایه وروسته، قاضي خان په «فتاوی قاضي خان» کې، ابن همام په «فتح القدیر» کې، ابن نجیم په «البحر الرائق» کې او ابن عابدین شامي په «رد المحتار» کې همدغه طرز ته پراختیا ورکړه.

په دې توګه د متقدمینو له طرز څخه وروسته د متأخرینو دا طرز په فقهي تصنیفاتو کې ډېر غالب شو.

نن ورځ چې د حنفي فقهې په کتابونو کې د امام ابوحنیفه، امام ابویوسف او امام محمد رحمهم الله اقوال په منظم ډول یوځای راوړل کېږي او د صاحبینو پر اقوالو فتوا ورکول له مذهبه وتل نه ګڼل کېږي، د دې تاریخي تحول شالید باید له همدې زاویې وکتل شي.

خو د سائد بکداش د څېړنې له مخې، دا طرز د حنفي مذهب د لومړنیو متونو او د هغو د متقدمو شارحینو له منهج سره په بشپړ ډول یو شان نه دی.

بلکې د متأخرینو د همدې منهج ځینې صریح عبارتونه هم د دې بحث له پخواني طرز سره د پام وړ تفاوت لري.

د بېلګې په توګه، خپله صاحب هدایه رحمه الله په «التجنیس والمزید» کې په مطلق ډول د امام ابوحنیفه رحمه الله پر قول د فتوا تصریح کړې ده.

پايله

د پورته تاريخي او فقهي شواهدو له مجموعې څخه دا څرګندېږي چې د «فقه حنفي» د اصطلاح د اصلي او حقيقي مفهوم په اړه قوي دليل دا دی چې د دې اصطلاح اصلاً د امام ابوحنيفه رحمه الله پر فقهي اقوالو اطلاق شوی دی.

امام ابويوسف او امام محمد رحمهما الله بې له شکه ستر، جليل‌القدر او مستقل مجتهدان وو؛ د هغوی علمي مقام دومره لوړ دی چې د هغوی اقوال د حنفي فقې په ډېرو کتابونو کې د بحث، استدلال، تصحيح او ترجيح برخه ګرځېدلې ده.

خو دا له دې خبرې سره جلا مسئله ده چې آيا د هغوی هر فقهي قول د «فقه حنفي» په اصطلاح کې له لومړي سره شامل و او که نه.

د متقدمينو د کتابونو، د امام محمد رحمه الله د تدويني طرز، د متونو او مختصراتو د مؤلفينو د منهج، د امام قدوري رحمه الله د «قول المخالف» تعبير، د ګڼ شمېر متقدمو او متأخرو فقهاوو د «فتوا على قول الإمام» صريح عبارتونو او نورو تاريخي شواهدو له مخې داسې ښکاري چې د «فقه حنفي» اصلي اطلاق د امام ابوحنيفه رحمه الله پر اقوالو و.

البته وروسته د فقهي تدوين د پراختيا له امله د امام ابوحنيفه، امام ابويوسف او امام محمد رحمهم الله اقوال په ګډه مطالعه شول، د هغوی ترمنځ تصحيح او ترجيح رامنځته شوه او د متأخرينو په فقهي کتابونو کې د دې دري واړو اقوال د حنفي مذهب د بحث يوه منظم برخه وګرځېده.

له همدې امله، بايد د دوو مسئلو ترمنځ توپير وشي:

لومړی: د «فقه حنفي» د اصطلاح اصلي او تاريخي اطلاق؛

دويم: په حنفي فقه کې د امام ابويوسف او امام محمد رحمهما الله د اقوالو علمي اعتبار او د اړتيا په صورت کې پر هغو د فتوا ورکولو جواز.

دا چې صاحبين د حنفي فقهې په علمي ميراث کې ستر مقام لري، د دې معنا نه لري چې د «فقه حنفي» اصطلاح دې له تاريخي پلوه له لومړی ورځې د هغوی پر ټولو اقوالو هم اطلاق شوې وي.

په همدې ځای کې د سائد بکداش د یادې رسالې څېړنه ځانګړی اهمیت پیدا کوي؛ ځکه نوموړي د دې مسئلې د روښانتیا لپاره د حنفي فقهې له لومړنیو مصادر، متونو، مختصراتو، شروحو او د متقدمو او متأخرو فقهاوو له څرګندو عبارتونو څخه پراخه استفاده کړې او هڅه یې کړې چې دا مسئله یوازې د متأخرې اصطلاح له مخې نه، بلکې د حنفي مذهب د تاریخي تشکیل او تدوین له مخې وڅېړي.

نو د دې څېړنې له مخې لنډ ځواب دا دی:

«فقه حنفي» په خپل اصلي او تاریخي مفهوم کې د امام ابوحنیفه رحمه الله د فقهي اقوالو نوم دی؛ اما د حنفي فقهې په وروستي تدوین او متأخر فقهي عرف کې د امام ابویوسف او امام محمد رحمهما الله اقوال هم د حنفي فقهي بحثونو په پراخه مجموعه کې داخل شوي دي.

والله أعلم بالصواب.

د حنفي فقهې اته ستري ځانګړتياوي

ليکوال مفتي ابو محمد عزت الله درويش حفظه الله

دا خو يو ثابت شوی حقيقت دی چې د حنفي فقهې تدوين د شورا پر بنسټ شوی دی، همدا وجه ده چې اجتماعي اجتهاد، آزاد بحث او تنقيد په دې فقهي مذهب کې د عقل، شرعي نصوصو، شرعي مقاصدو او د انساني مصالحو ترمنځ يو خاص توازن رامنځته کړی، چې دا ځانګړنه په نورو فقهي مذاهبوو کې لږه ليدل کيږي.

د حنفي فقهې د اجتهاد طريقه، د إستنباط أصول او د دې فقهې د مذهب مستنبط جزئياتو او فروعاتو ته په کتلو سره ددې فقهي مذهب د يو څو ځانګړتياوو او امتيازاتو يادونه مناسب ده:

۱ .د نصوصو زيات اهتمام :

د حنفي فقهې تر ټولو لويه ځانګړتيا دا ده چې په دې فقهي مذهب کې شرعي نصوصو ته ډېر زيات ارزښت ورکړل شوی دی، په دې فقهي مذهب کې خبر واحد د قياس نه مقدم ګڼل شوی، همدا راز مرسل حديث (هغه حديث چې تابعي يي پرته له واسطې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته نسبت کوي او د صحابي ذکر په کې قطع کړي) إمام أبو حنيفه رحمه الله د خاصو شرايطو او تفصيلاتو سره قبول کړی. (التقريب ۱/۳)

۲ .په حنفي فقه کې د نصوصو کثرت

د قران کريم او نبوي احاديثو ډېروالی د احکامو د إستنباط لپاره تر ټولو مهم بنسټ دی، په دې اړه ځينې مهم ټکي په لاندې ډول دي:

د نصوصو د تعامل او تطبيق طريقه:

حنفي فقهاء د نصوصو د کثرت په وخت کې د «جمع او تطبيق» أصول کاروي، دوي هڅه کوي چې د ټولو هغو نصوصو ترمنځ چې په يوه موضوع کې راغلي وي، يو داسې توازن پيدا کړي چې يو نص د بل نص د رد لامل نه شي، د دوي په نېزد، که دوه نصوص په ظاهره سره په ټکر کې ښکاري، نو لومړی د هغوي د جمع کولو هڅه کېږي.

د نصوصو د عموم او خصوص رعايت:

کله چې نصوص ډېر وي، حنفي فقهاء د «عام» او «خاص» نصوصو ترمنځ توپير کوي، که يو نص عام وي او بل خاص، نو خاص نص د عام نص د حکم د محدودولو لپاره کارول کېږي، دا د نصوصو د کثرت د مديريت يو دقيق علمي ميتود دی.

د نصوصو د کثرت او قياس اړيکه:

حنفي فقهاء د نصوصو د کثرت په موجوديت کې قياس ته اجازه نه ورکوي، د دوي قاعده دا ده چې: «کله چې نص موجود وي، قياس باطل دی» .

نو که په يوه موضوع کې نصوص ډېر وي، فقهاء د هماغه نصوصو په رڼا کې حکم کوي او د قياس اړتيا نه پاتې کېږي.

۳ .ضعيفو رواياتو ته ځای ورکول:

د احنافو مذهب آن په عباداتو کې دا دی چې ضعيف حديث (کوم چې د متقدمينو په نيزد حسن حديث وي) د قياس په مقابل کې ترجيح لري.

له همدې امله د حنفي فقهې په کتابونو کې ډېر داسې مثالونه شته چې قياس پرېښودل شوی او ضعيف حديث ته ترجيح ورکړل شوې ده، د بيلګې په توګه:

که يو لمونځ کوونکی د لمانځه پر مهال په لوړ غږ په (قهقهه) وخاندي، نو د قياس له مخې بايد د هغه اودس مات نه شي، ځکه چې قهقهه د نجاست د وتلو سبب نه ګرځي، خو په دې اړه يو ضعيف حديث شته چې وايي: د داسې شخص اودس ماتېږي. (سنن الدار قطني، ۱۶۳/۱)

نوځکه احنافو د قياس په پرېښودو سره دا ضعيف حديث غوره ګڼلی دی او قهقهه يې د اودس ماتوونکې بللې ده. (إعلام الموقعين: ۸۵/۱)

۴ .د تجارت په اړه د شرعي قانون دقيقه څېړنه:

په عباداتو کې زيات نصوص (آيتونه او حديثونه) راغلي دي، د نکاح او وراثت په اړه هم ډېر جزئيات او تفصيلات په کتاب الله او سنت کې شته، خو د تجارت په باب کې يوازې ضروري أصول او اساسي قواعد بيان شوي دي، چې پرې د شريعت د مقاصدو وضاحت کولی شي، جزئي تفصيلات ډېر کم ذکر شوي دي او دا کار د شرعي مصلحت او حکمت سره سم دی، ځکه که چيرې د عباداتو په څېر په معاملاتو (تجارت) کې هم کلک حدونه ايښودل شوي وی، نو د وخت او حالاتو له بدلون سره سم به عمل پرې کول ډېر سخت او ناممکن شوی وی، نو ځکه د تجارت جزئي تفصيلات قياس، اجتهاد او إستنباط ته پرېښودل شوي دي او د همدې تفصيلاتو په وضاحت کې دقيق نظر د مجتهد د بصيرت او پوهې أصل ښېنه ده.

إمام أبو حنيفه رحمه الله يو لوی تاجر و، د کوفې ښار کې تر ټولو لوی دوکان د هغه و، نو طبعي ده چې د تجارت احکام په څومره تفصيل، پراخوالي، ژورتيا او دقيق نظر سره د هغه په فقه کې موندل کېږي، د نورو په فقه کې نه موندل کېږي.

مثلاً: په حديث کې له قبضې (يعنې ملکيت ته د رسيدو) نه مخکې د کوم مال د خرڅولو څخه منع شوې ده، خو إمام أبو حنيفه رحمه الله د ځمکې معامله د منقوله مال (يعنې د ليږد وړ مال) له حکم څخه استثناء کړې ده، ځکه د شريعت اساسي مقصد دا دی چې خلک له دوکې او غرر (نامعلوم يا مشکوک معاملې) څخه وساتل شي.

په منقوله مال کې دا احتمال شته چې ممکن له قبضې مخکې تلف او ضايع شي، خو په غير منقوله جايداد (لکه ځمکه) کې په ښکاره دا احتمال نه ليدل کېږي.

(البحر الرائق، فصل: د بيع او قيمت د قبضې نه مخکې د تصرف بيان – ۲۲۸/۲).

په حديث کې په ځينو مواردو کې له کوم تفصيل پرته د ذخيره اندوزۍ (احتکار) نه منع شوې ده.

(صحيح مسلم: ۳۱۲/۸، حديث شمېره: ۳۰۱۲) .

او په ځينو ځايونو کې په ځانګړې توګه د خوراکي توکو د ذخيره اندوزۍ منع شوې ده.

دا چې إمام أبو حنيفه رحمه الله د خلکو له اړتياوو ښه خبر و، او دا يې هم درک کړې وه چې ځينې توکي داسې وي چې د کال تر اوږدو پورې يې د دوامداره موجوديت لپاره يو ډول ذخيره ساتل ضروري وي.

په داسې مواردو کې د شريعت أصل مقصد دا نه دی چې د خرڅلاو لپاره ذخيره منع کړي، بلکې هدف دا دی چې له پيرودونکو څخه استحصال ونه شي، او خلک د ورځني ژوند په مهمو چارو کې له ستونزو او سختيو وژغورل شي.

د دې ټولو اړخونو په نظر کې نيولو سره، إمام صاحب دا نظر وړاندې کړی دی چې نه خو په هر شي کې احتکار منع دی، او نه هم دا ممانعت يواځې د خوراکي شيانو پورې محدود دی، بلکې هر هغه توکي چې انسان ورته اړتيا لري او په ذخيره ساتلو يې خلک له ستونزو سره مخ کېږي هم په دې حکم کې داخل دي.

(بدائع الصنائع، کتاب الاستحسان: ۲۳)

په بيع سلم (پر مخکې پيسو اخيستل او وروسته مال سپارل) کې د معاملې پر وخت مبيع (خرڅېدونکی مال) شتون نه لري، بلکې وروسته ورکول کېږي، نو ځکه ضروري ده چې د هغه مال دقيق تعين وشي، تر څو وروسته د شخړې هېڅ امکان پاتې نه شي.

په حنفي فقه کې د دې مسئلې ډېر تفصيلات شته، إمام أبو حنيفه رحمه الله دا لازم ګڼي چې د خرڅېدونکي مال جنس، ډول، اندازه، صفت، د ورکړې موده، د مال د سپارلو ځای او دا هم واضح شي چې د کوم ښار توليد دی؟

ځکه د مختلفو ښارونو صنايع او قيمتونه ډېر توپير لري. (الدر المختار، باب السلم: ۲۳۳/۲۰)

همدا راز إمام أبو حنيفه رحمه الله د غونبې په اړه د بيع سلم اجازه نه ده ورکړې او علت يې دا بيان کړې چې غونبه کله څربه وي او کله کمزورې. (الدر المختار، باب السلم: ۲۴۲/۲۰)

په هر حال، د تجارتي قوانينو په برخه کې ډېر جزئيات شته، چې دا ټول د إمام صاحب د ژور بصيرت، دقيق درک، د شريعت په مقاصدو پوهه، د انساني اړتياوو پېژندنه، تاجرانه مزاج او د احتياطي تدابيرو ښکاره ښېې دي.

۵ .حنفي مذهب په نړيواله کچه د تر ټولو زياتو پيروانو لرونکی مذهب دی:

د حنفي مذهب د پراختيا يو مهم لامل د إمام أبو حنيفه (رحمه الله) د شاګردانو، په ځانګړې توګه د إمام أبو يوسف او إمام محمد (رحمهم الله) علمي هڅې وې، إمام أبو يوسف د عباسي خلافت په دوره کې د «قاضي القضات» په توګه دنده ترسره کوله، چې له امله يې د حنفي مذهب أصول د عدلي او قضايي نظام په توګه په پراخه کچه پلی شول.

همدارنګه، د اسلامي فتوحاتو په لړ کې دغه مذهب د خراسان، ماوراء النهر او هند تر ختيځو پولو پورې ورسېد، د افغانستان خلکو هم د اسلامي تمدن په خپرولو کې د علمي او فرهنګي خدمتونو په ترسره کولو سره د دې مذهب په پياوړتيا کې ستر رول ولوباوه.

حنفي مذهب د عقل او نقل ترمنځ د توازن او د ټولنيزو مصلحتونو د رعايت له امله د بېلابېلو کلتورونو او سيمو خلکو ته د منلو وړ وګرځېد او په نړيواله کچه د تر ټولو زياتو پيروانو لرونکی مذهب شو.

« هغه کسان چې د حنفي فقهې په اړه ژور نظر لري، پوهېږي چې د دې فقهې اوسنۍ بڼې ته راوستلو کې د امت د سترو پوهانو، هوښيارو او د وخت د سترو عالمانو او فقهاوو خدمتونه شامل دي.

د إمام أبو حنيفه رحمه الله څخه وروسته د هغه نابغه او مجتهد شاګردانو لکه: إمام أبو يوسف او إمام محمد (رحمهم الله) د حنفي فقهې متبعين، له هر ډول ګمان او شک څخه راويستلي، بلکې دغه حضراتو د خپل استاد إمام صاحب پر هر يوې مسئلې تنقيدي نظر کړی دی، دغه مسائلو لپاره يې دلايل روښانه کړي دي او بيا دغو حضراتو له نورو فقهاوو هم استفاده کړې ده او له هغوي سره يې ليدنې شوي دي لکه: إمام مالک، إمام شافعي وغيره...

او له هغوي څخه يې اختلافي مسائل اورېدلي دي.

دا حنفي (علماء) يوازې په دې معنی حنفي دي چې دوي د خپل إمام د اجتهاد له أصولو او دايرې څخه نه وځي، حالانکه دوي د کتاب او سنت څخه د احکامو په استخراج او إستنباط کې پوره مجتهدين دي، کله له حضرت إمام سره اتفاق کوي او کله اختلاف هم، دا حضرات د "مجتهد فی المذهب" په مرتبه کې دي.

بيا له دې درېيو څخه چې کوم مسائل پاتې شوي، هغه د إمام طحاوي رحمه الله په څېر حضراتو حل کړي دي، إمام طحاوي د "اجتهاد فی المسائل" مرتبې فقيه دی.

بيا وروسته د درېيو امامانو (صاحبين او إمام) په إستنباط کړو مسائلو باندې د نويو مسائلو تخريج کړل شوی، إمام کرخي رحمه الله په دې برخه کې ډېر پراخ کار کړی دی.

بيا وروسته د ترجيح ورکونکو امامانو نوبت راځي، لکه علامه برهان الدين مرغيناني د " هدايې" صاحب وغيره...

نو هر هغه څوک چې په فقه حنفي پوره نظر ولري، د هغه په ذهن کې به هيڅکله دا وسوسه پيدا نه شي چې د إمام ابوحنيفه مذهب لکه څنګه چې مخالفين وايي هغه شان دې وي، د فقهې په دې تاريخي پس منظر کې د دې وهم (ګومان) هم د چا په ذهن کې نه پيدا کېږي.

فائده: په فقه حنفي کې د امامانو بېلابېل اقوال او د هغوی بېلابېل تخريجات موندل کېږي، عمل يوازې په "مفتي به" (هغو اقوالو چې فتوا پرې ور کول کېږي) اقوالو کېږي، نور اقوال يوازې د بصيرت پيدا کولو لپاره تر بحث لاندې نيول کېږي.

٦ .د اسلامي نړۍ لومړنۍ مدونه(منظمه) فقه؛

د حنفي فقهې يوه امتيازي ځانګړنه دا ده چې دا د اسلامي نړۍ لومړنۍ باقاعده فقه ده، له إمام صاحب (رحمه الله) مخکې هم د تفقُّه (فقهي پوهې) بېلابېلې دايرې وې، خو د دې تفقُّه پر بنسټ د يوې باقاعده فقهې جوړول تر ټولو لومړی إمام صاحب ترسره کړل.

د حنفي فقهې لومړنۍ امتيازي ځانګړنه دا ده چې دا د اسلامي نړۍ لومړنۍ باضابطه مدونه فقه ده، مؤرخينو او محدثينو له کوم څنډ پرته پر دې اعتراف کړی دی.

زمور د علمي ماضي يو ښکلا دا هم ده چې د يو بل د امتيازاتو او ځانګړنو په اعتراف کې زمونږ علماوو هيڅکله بخل نه دی کړی.

إمام جلال الدين سيوطي (رحمه الله) د شافعي مسلک له سترو عالمانو څخه دی او يو پياوړی شافعي دی، خو د إمام اعظم ابوحنيفه د عظمت په اعتراف کې يې کتاب ليکلی دی او په کې اعتراف کوي چې:

«أول من دوّن الفقه و رتب أبوابه» ؛ يعنې لومړنی کس چې فقه يې مدون کړه، ابواب يې مرتب کړل او د ابوابو په لحاظ يې فقه منظمه کړه، هغه ابوحنيفه نعمان بن ثابت (رحمه الله) دی.

مور دې عمل ته فقه هم وايو، تفقُّه هم وايو او د فقهې تدوين هم وايو، خو په نننۍ اصطلاح کې ورته قانون جوړونه (قانون سازي) ويل کېږي.

قانون جوړونه څه ته وايي؟ هغه څه چې په لومړيو کې ورته «فقه فرضي» ويل کېده او ډېرو پوهانو د ځينو تحفظاتو له امله تري ډډه کوله، داسې پوهان د صحابه کرامو (رضي الله عنه) او تابعينو په منځ کې هم وو چې د فرضي فقهې په اړه يې تحفظات لرل او ويل به يې چې تر څو کومه مسئله نه وي پېښه شوې، په اړه يې تردد او تحقيق مه کوئ.

کله چې کومه معامله پېښه شي، بيا يې په اړه پلټنه وکړئ، خو زه وايم چې د تحفظاتو دايره جلا ده او د اړتياوو دايره جلا ده، د تحفظاتو نړۍ دا ده چې له دې کاره بايد ډډه وشي، له دې کاره بايد ځان وساتل شي، په فلانۍ معامله کې بايد لاس ونه وهل شي او داسې نور .

خو کله چې اړتياوې پېښې شي، د هغوي دايره له دې سره توپير لري چې فلانۍ اړتيا هم بايد پوره شي او د فلانۍ اړتيا تقاضاوې هم بايد په پام کې ونيول شي.

د حيرانتيا خبره دا ده چې په هر زمانه کې د تحفظاتو او اړتياوو ترمنځ کشمکش موجود و، دا کشمکش د تابعينو له زمانې پيل شوی، نن هم شته او تر قيامته به وي، تحفظات او اړتياوې دواړه لازمي دي.

زه تحفظات او اړتياوې د يوې ګاډۍ د دوو ټايرونو په څېر تعبيروم چې د تحفظاتو دايره هم نه شي پرېښودل کېدای او د اړتياوو له دايرې هم انکار نه شي کېدای.

د دې دواړو ترمنځ د توازن ساتلو نوم «علم الفقه» دی.

لکه څنګه چې د ګاډۍ د ټايرونو «ويل بيلنسنګ» کېږي، معاينه کېږي او ترمنځ يې توازن ساتل کېږي چې که دا بيلنس نه وي، ګاډۍ يوې خوا ته کږيږي.

زه دا وايم چې إمام ابوحنيفه (رحمه الله) لومړنی کس دی چې د فقه فرضي، يا قانون جوړونې، يا تر هغه وخته د نه پېښو شويو مسائلو د مخکښې حل په لور يې د يوې اداري په بڼه ګام پورته کړ او نړۍ ته يې وښوده چې دا د امت اړتيا ده او اړتياوې ډېر وخت نه شي درول کېدای.

امام صاحب داسې ګام پورته کړ چې تر ننه پورې د اسلامي نړۍ د فقهې او قانون بنسټ پر همدې ګام ولاړ دی، نن هم چې د قانون جوړونې لپاره اړتيا پېښه شي، پيل له هغه ځايه کېږي چې په دې معامله کې د إمام ابوحنيفه (رحمه الله) د فقهې «زيرو پوائنټ» (صفر نقطه) څه ده.

دا د حنفي فقهې امتياز دی چې د قانون جوړونې پيل حنفي فقهې وکړ او د دستور جوړونې (اساسي قانون) پيل هم حنفي فقهې وکړ، قانون جوړونه دا وه چې د امام ابوحنيفه (رحمه الله) په مجلس کې به له ۳۵ تر ۴۰ پورې عالمان ناست وو چې هر يو يې د خپل فن ماهر و.

هغوی به پر مسائلو بحث کاوه چې په کې اختلاف هم و، اتفاق هم او په پايله کې يو قانون جوړېده، خو د دستور جوړونې پيل له کومه شو؟ لومړنی باقاعده تحريري دستور د هارون الرشيد په غوښتنه إمام أبو يوسف (رحمه الله) وليکه.

د وخت حکومت، أميرالمؤمنين هارون الرشيد له قاضي القضات (ستر قاضي) إمام أبو يوسف څخه غوښتنه وکړه چې تاسو ماته په تحريري بڼه داسې يو ضابطه مرتب کړئ چې له مخې يې زه نظام وچلوم.

إمام ابويوسف په دې يو کتاب وليکه چې مورږ يې د «کتاب الخراج» په نوم يادوي، دا «الخراج» د هېواد د نظام چلولو دستور و، په کې ډېرې د معاشياتو مسائل دي، خو په ټولیزه توګه دا يو دستوري چوکاټ و چې تر ټولو لومړۍ د خليفه هارون الرشيد په غوښتنه إمام أبو يوسف وليکه او دا دستور نافذ پاتې شو.

نو لومړنۍ امتياز دا دی چې په اسلامي نړۍ کې د قانون جوړونې پيل هم حنفي فقهې وکړ او د دستور جوړونې پيل هم حنفي فقهې وکړ.

لومړنۍ مدون قانون إمام صاحب او د هغه شاګردانو وړاندې کړ، په داسې حال کې چې لومړنۍ مدون اقتصادي دستور د إمام صاحب شاګرد إمام أبو يوسف وړاندې کړ.

۷ .د روايت او عقل ترمنځ توازن:

د حنفي فقهې بل ستر امتياز د روايت او درايت ترمنځ توازن دی، يعنې په خپل خپل ځای کې له وحي او عقل څخه سمه ګټه اخيستنه، زمورږ ددين بنسټ پر وحي ولاړ دی، خو له عقل څخه انکار هم نه کوو، بلکې د يوې مرستندويې وسيلې په توګه د عقل سم استعمال خپله د دين تقاضا ده، چې د احنافو په مذهب کې يې اهتمام تر ټولو ښه ليدل کېږي.

په هغه دور کې د «اصحابِ ظاهر» بنسټ يوازې پر روايت و، په داسې حال کې چې معتزله وو عقل او درايت يوازينی معيار ټاکلی و، په هغه وخت کې چې د روايت او درايت د شخړې پيل کېده او دا شخړه په يو طوفان بدله شوې وه، د تاريخ د يو زده‌کوونکي په توګه زه ويلای شم چې د إمام ابوحنيفه (رحمه الله) تر ټولو ستر کار دا و چې د روايت او درايت په دې طوفاني شخړه کې يې د دواړو ترمنځ د اعتدال او توازن دريځ خپل کړ، إمام صاحب په اعتدال سره د روايت او درايت ترمنځ اړيکه ټينګه کړه او نړۍ ته يې وښوده چې روايت خو زمورږ بنسټ دی، خو درايت (عقلاني پوهه) هم زمورږ نه شلېدونکې اړتيا ده.

دا خبره يوازې هغه څوک ښه درک کولای شي چې د هغه دور پر تاريخ نظر ولري چې د روايت او درايت شخړې څه ډول طوفان راپورته کړی و، که په اسبابو کې إمام ابوحنيفه د روايت او درايت ترمنځ د توازن او اعتدال بيرغ نه وای پورته کړی، نو خدای خبر چې دا طوفان به تر کومه ځايه تللی وی.

إمام صاحب (رحمه الله) وښوده چې د روايت دايره دا ده او د درايت دايره دا ده، دواړه يو له بل سره لازم او ملزوم دي، د درايت (عقل) پرته د روايت پوهېدل ممکن نه دي او د روايت پرته درايت (يوازې عقل) ګمراهي ده.

د دې خبرې لنډيز دا دی چې د روايت د پوهېدو لپاره درايت اړين دی، په داسې حال کې چې يوازې درايت، چې د روايت پرته وي، ګمراهي ده، همدا د إمام صاحب (رحمه الله) د فکر لنډيز دی چې نړۍ ته يې وښوده چې د عقل او وحي ترمنځ اړيکه څه ده.

۸ .د إمام صاحب ټول مستدلات صحيح دي:

د حضرت إمام أبو حنيفه رحمه الله په ټولو مستدلاتو کې چې څومره روايات دي، هغه ټول صحيح دي.

لکه څرنګه چې إمام عبدالوهاب شعراني رحمه الله (کوم چې په شافع المسلک علماوو کې لوی محدث او فقيه دی)، فرمايي:

الله تعالی ما سره دا احسان وکړ چې ما د إمام أبو حنيفه رحمه الله درې واړه مسانيد مطالعه کړ، او دې نتيجې ته ورسيدم چې د إمام أبو حنيفه د رویاتو څخه کوم يو روايت هم په ضعيف سند سره روايت شوی نه دی، بلکې ټول په ټول روايات يې د خيار تابعين او د داسې ثقه راويانو څخه مروي دي، چې د خيرالقرون په لوړه درجه راويانو کې شامل دي.

لکه: إمام اسود إبن يزيد، إمام علقمه، إمام عطاء إبن أبي رباح، إمام عکرمه، إمام مجاهد إبن جبر، إمام مکحول، إمام حسن بصري او د دوي د درجې برابر نور لوی لوی حفاظ حديث.

د حضرت إمام أبو حنيفه رحمه الله او د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ترمنځ چې څومره راويان دي، ټول په ټول عادلان، ثقات، اعلام او د کبارو تابعينو څخه دي، په دوي کې نه کوم کذاب (دروغجن) شته او نه کوم متهم بالکذب.

(اوجز المسالک، مطبع دارالقلم دمشق ۱/ ۱۸۷)

الغرض: دا ځانګړتياوې دا ښايي چې حنفي مذهب يو معتدل، متوازن، او د شرعي مقاصدو او انساني مصالحو سره همغږی فقهي مذهب دی.

د اسلام له نظره د تجارت فضيلت او د مسلمان تاجر صفات

ليکوال:مولانا حشمت الله مياخيل حفظه الله

د اسلام له نظره د تجارت فضيلت او د مسلمان تاجر صفات

د انسان هر عمل هغه وخت قيمتي او عبادت ګرځي چې په شرعي نهج انجام شي اسلامي شريعت د هر عبادت لپاره ځانګړې طريقه او کيفيت وضع کړی دی. په اسلامي ټولنه کې تجارت کول هم د نورو عباداتو په شان يوه خاصه طريقه لري.

د اسلام دين ته دا لوړوالی او هر اړخيز والی ورپه برخه دی،چې يوازې د عبادت او آخرت د چارو او کارونو اړوند اصول او مسئلې يې نه دي بيان کړې، بلکې د دنيوي چارو ګټل ،په تجارت، کار او ژوند پورې اړوند حکمونه يې هم بيان کړې دي. په کومو چارو چې آخرت جوړيږي او ښکلې کيږي په هغه کې يوازې عبادت کول نه دي شامل، بلکه په هغه کې معاملات، تجارت او د ژوند کولو د چارو طرز او طريقې هم پوره اثر لري. لکه څرنګه چې عبادت کول مطلوب دي او د هغه د ښکلې پايلې په آخرت کې ښکاره کيږي، په پرېښودو، سستۍ او تمبلۍ باندې يې آخرت د تباهۍ ويره ده، همدارنګه دنيوي معاملات، تجارت او د ژوند نورې لارې کومې چې د شريعت په اصولو او دائرو کې ترسره شي په دنيا او آخرت کې د ښو پايلو لامل کيږي، او په هغه کې سستۍ،کمۍ،تمبلۍ او د ناروا کارونو ترسره کول انسان د آخرت د تباهۍ او خرابيدو او په دنيا کې هم د ډېرو مشکلاتو او ستونزو سبب او لامل کيږي.

د مسلمان تاجر صفات

مسلمان تاجر بايد د هر څه نه لومړی نورو خلکو ته د خير رسولو اراده ولري : مسلمان تاجر بايد خپل نيت اصلاح کړي او داسې فکر وکړي لکه څرنګه چې ځان ته ګټه رسول غواړی بل مسلمان ورور ته هم د ګټې رسولو په فکر کې شي او کوم شی چې د ځان لپاره نه خوښوی بايد د مسلمان ورور لپاره يې هم خوښ نه کړي؛ لکه درواغ، دوکه، ظلم، خيانت او چل. تاجر بايد دهر هغه کار نه ځان او کارکونکې وساتي چې خلکو ته په کې ضرر او نقصان رسيږي.

په دې اړه الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايلي دي :

﴿وَيَا قَوْمِ أَوْفُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ ۖ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ﴾ (سورت هود ۸۵) .

او ای قومه ځما ! پوره ورکوئ تاسې پيمانه او تله په انصاف (عدل سره) او مه کموئ تاسې خلقو ته څيزونه (مالونه) د دوی ،او مه لټوئ تاسې (خرابي) په ځمکه کې په دغه حال کې چې فساد کوونکي يئ.

تفيسر كابلی د دې آيت په تفيسر کي ليکلي دي :

په ځمکه کې فساد کوی يعنې له شرکه او کفره يا لږ پيمانې کولو او تللو څخه ،يا په نورو ډولو (طريقو) د حقوقو له اتلافه او ظلمه او تېري او تجاوز په ځمکه کې فتنه او فساد مه آچوئ، او خرابي مه کوئ!.

په حديث شريف کې راغلي دي :

عن انس عن النبي صلى الله عليه وسلم قال لا يؤمن أحدكم حتى يحب لأخيه ما يحب لنفسه.(بخاري شريف).

د انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي : تر هغې يو د ستاسو کامل مؤمن کيدای نشي ترڅو خوښ وګڼي خپل ورور (مسلمان) لپاره هغه څه چې خوښ ګڼي د خپل ځان لپاره.

۲ :په معامله کې ريښتينولي او صادق والی

د مسلمان تاجر بل صفت دادی چې بايد د اخيستلو او خرڅولو پروخت ريښتينولي او صدق خپل اصل وګرځوي او هيڅکله د خپل مال د خرڅولو او اخيستلو پر وخت درواغ ونه وايې.

په حديث شريف کې راغلي دي : عن أبي سعيد عن النبي صلى الله عليه وسلم قال التاجر الصدوق الأمين مع النبيين والصديقين والشهداء.(سنن الترمذي،مشكاة المصابيح شرح مظاهر حق ۲٦۷۵).

ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول اللّٰه صلى الله عليه وسلم وفرمايل : تاجر (سوداګر) ريښتيا ويونکی ،امانت دار به د نبيانو ،شهيدانو او صديقانو سره وي.

تشريح : د کاروباري څخه مراد هغه سړی دی چې د تجارت کاروبار او اجاره داري کوي،او دا خبره هم په ذهن کې کينول پکار دي چې تر ټولو غوره کاروبار د کپړو تجارت دی او ددې څخه وروسته عطر پلورل او جوړل. د حديث شريف مطلب دادی چې کوم تجارت کوونکي سړي په ريښتيا، ديانت داری او امانت په صفتو سره متصف وي نو د هغه ټول ژوند به د کمالیه صفاتو څخه مزين وي او د هغه نتيجه به دا وي چې هغه به د حشر په ميدان کې د نبيانو، صديقينو او شهيدانو سره وي لکه څرنګه چې هلته د سختي پر وخت به دغه درې طبقې د الهي رحمت په سايه کې وي همدارنګه دغه سړی به هم د الله تعالی د رحمت په خاص پناه کې وي يا دا چې هغه ته به په جنت کې د هغوی د ملګرتيا شرف حاصل شي نو هغه ته به د انبياؤ ملګرتيا د هغوی د اطاعت او فرمانبرداری په وجه تر لاسه وي، د صديقينو سره د هغوی د خاص صفت يعني د صدق د موافقت په وجه به وي او د شهيدانو سره د ملګرتيا سعادت به هغه ته ځکه په برخه وي چې شهيدان به د هغه سړي د صدق او امانت شاهدي ورکوي.

۳:د وزن او پيمانې پوره ورکول

د مسلمان تاجر بل صفات دادی چې په وزن او پيمانه کې به کمی نه کوي.

٤ :د اخيستلو او خرڅولو پر وخت آساني کول، او له خلکو سره مرسته او مهرباني کول .

د مسلمان تاجر بل صفات دادی چې د خرڅولو پروخت بايد له مشتريانو او مراجعينو سره اساني وکړي او له مهربانی څخه کار واخلي. که چيرې مشتري پيسې فی الحال ونلری ورته په نيټه جنس ورکړي او د اخيستونکي مجبوريت ته وګوري.

تجارت کې نرمي کونکي لپاره د رسول الله صلی الله عليه وسلم دعاء

داسې سړي ته رسول الله صلی الله عليه وسلم دعاء کړی ده.. عن جابر قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم رحم الله رجلاً سمحاً إذا باع وإذا اشترى وإذا اقتضى.

(شرح مظاهر حق مشكوة المصابيح رقم الحديث ٢٦٧٠)

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :الله تعالی دي پر هغه سړي رحم وکړي کوم چې نرمي کوي کله چې اخيستل او خرڅول او غوښتنه کوي.

٥ :پر وعدو،او ترونو باندې وفاء کول

د مسلمان تاجر بل صفات دادی چې ټولو هغو وعدو او ترونو ته ژمن پاتي شي چې له خلکو سره يي کوي. دا هغه صفات دی چې الله تعالی يې په اړه هر مسلمان ته امر کړی دی. واوفو بالعهد ان العهد كان مسولا.... (سورت الإسراء ٣٤) .

او تاسو عهد پوره کوئ، بيشکه د عهد باره کې به پوښتنه کېږي.

الله تعالی ځکه په وعدو او عهدونو امر کړی دی چې وعده ماتول خيانت دی او مسلمان بالخصوص د خيانت څخه به ځان ساتي.

٦:په ګته قناعت درلودل او له احتکار څخه ځان ساتل

د مسلمان تاجر بل صفات دادی چې هر څومره ګټه ورته الله تعالی ورکړي، بايد پر هغې قناعت وکړي او زيات حرص ونکړي او له احتکار څخه به ځان ساتي.

په حديث شريف کې د احتکار په اړه داسې راغلي دي : من احتكر على المسلمين طعاما ضربه الله بالجذام والافلاس. (سنن ابن ماجه).

څوک چې دمسلمانانو څخه خوارکي توکي زيرمه او بند يې کړي؛ الله تعالی به يې په جذام مرض او مفلس توب اخته کړي.

په يو روايت کې احتکار کوونکي ته ملعون ويل شوي دي:احتکار کوونکی لعنتي دی. (المستدرک للحاکم).

په پای کې، تجارت،معاملات، حلال کسب او مزدوری د انسان د ژوند يوه اساسي او بنيادي اړتيا ده، او شريعت مور ته دا لارښوونه کړې چې د حلال رزق د ترلاسه کولو لپاره په خپل ښه نيت، اخلاص، امانتداری ،تقوی، محنت، صداقت او نورو ته د خير رسولو باور ولرو. معاملات او تجارت چې له شريعت سره سم وي او د سنتو پيروي نيت پکې شوې وي، نه يوازې د دنيا لپاره ګټور دی، بلکې د اخرت ذخيره هم لري. شريعت مور ته ښوونه کوي چې انسان بايد د حلال رزق د ترلاسه کولو لپاره هڅه او کوښښ وکړي، او خپل عقائد،عبادات ،معاملات،ټولنيز ژوند او تجارت د شريعت په رڼا کې تنظيم کړي. الله تعالی دې ټولو ته توفيق ورکړي چې د امام الأنبياء ،خاتم النبيين حضرت محمد مصطفیٰ ﷺ پر سنتو برابر د ژوند وکړو. آمين.

د دارالعلوم ديوبند د قيام تاريخ:

په ۱۵ محرم الحرام ۱۲۸۳هـ مطابق ۱۸۶۶ عيسوي د پنجشنبې ورځ د هندوستان په تاريخ کې هغه مبارکه ورځ ده، چې په کومه د رُشد او هدايت ونه د ديوبند په کلي کې وکرل شوه، چې ډېر زر تري شجر طوبی جوړه شوه، په همدغې ورځ د يو څو بزرګانو اجتماع وشوه او چنده يې جمع کړه او د مسجد چتهـ په فرش د انار د سوري لاندې د يو مدرسې افتتاح وشوه.(دارالعلوم ديوبند او دارالعلوم ديوبند ص ۳۱)

د افغانستان مفاخر « علامه غلام نبي كاموي»

ژباړه و ترتيب: محمد عمران شريف

د حضرت الهند رحمه الله او علامه كشميري رحمه الله نامتو شاگرد او د محدث العصر مولانا محمد يوسف بنوري رحمه الله ځانګړی ملګری د علامه غلام نبي كاموي رحمه الله ژوند ليک مقام او مرتبه

ليکوال: جميل احمد بن مولانا برهان احمد، استاد جامعه بنوری ټاون، او د مجلس دعوت او تحقيق اسلامي، کراچی، ملګری

لاندې د حضرت مولانا يوسف بنوري رحمه الله او مولانا غلام نبي كاموي رحمه الله د خپلمنځي اړيکو په اړه ځينې پېښې او روايتونه ذکر کېږي:

د درس پر مهال له حضرت مدني رحمه الله سره د مولانا كاموي رحمه الله د علمي بحث كيسه، د حضرت بنوري رحمه الله په روايت

مولانا غلام نبي كاموي رحمه الله لمسي، ډاکټر عبدالملک، دا پېښه بيان کړې چې د دارالعلوم سرحد پېښور مهتمم او د شيخ الاسلام مولانا حسين احمد مدني رحمه الله ممتاز شاگرد، شيخ الحديث مولانا سيد ايوب جان بنوري رحمه الله ويلي دي:

د حضرت بنوري رحمه الله او مولانا غلام نبي كاموي رحمه الله ترمنځ ډېرې ژورې اړيکې وې. په پېښور کې د حضرت بنوري رحمه الله د اوسېدلو پر مهال به چې كله دواړه حضرات سره يو ځای شول، نو مجلس به يې ډېر تود او په علمي بحثونو به ښايسته و. دواړه به ساعتونه په علمي بحثونو کې بوخت او پرې ډېر مشغول وو.

مولانا ايوب جان بنوري رحمه الله يو ځل د افغانستان ستر جهادي مشر حضرت اقدس مولانا جلال الدين حقاني رحمه الله (۲۱) ته د دوی دا پېښه داسې بيان کړه:

مولانا غلام نبي صاحب او محدث العصر علامه محمد يوسف بنوري صاحب يو له بل سره ډېرې ژورې اړيکې لرلې. دواړه حضرات د حضرت شاه صاحب ځانګړي شاګردان وو؛ البته مولانا غلام نبي صاحب د عمر له پلوه له مولانا بنوري صاحب څخه مشر و. دواړه به دلته راتلل.

يوه ورځ علامه سيد محمد يوسف بنوري راته ـ يعنې مولانا ايوب جان بنوري رحمه الله ته ـ دا كيسه وکړه:

كله چې په دارالعلوم ديوبند کې علامه محمد انور شاه كشميري رحمه الله له ديوبند څخه ډابهيل ته لاړ او وروسته په ۱۹۳۴م کال کې له نړۍ څخه پرده وکړه، نو شيخ العرب والعجم مولانا سيد حسين احمد مدنيؒ په دايمي توګه د شيخ الحديث په توګه مقرر شو.

کله چې مولانا غلام نبي رحمه الله د دې بدلون څخه خبر شو، نو د مولانا مدني رحمه الله د دې منصب د ترلاسه کولو په اړه يې تردد درلود؛ ځکه هغه له علامه کشميري رحمه الله وروسته بل څوک د دې مقام وړ نه ګاڼه. د دې لامل دا و چې هغه تر اوسه د مولانا مدني رحمه الله علمي کمالات له نږدې نه وو ليدلي.

له همدې امله، سره له دې چې مولانا يوسف بنوري رحمه الله به هغه ته خبره ورښکاره کوله او قناعت به يې ورکاوه، خو هغه پر دې خبره ټينګ ولاړ و چې له علامه کشميري رحمه الله وروسته بل لوی عالم نه دی پاتې.

هغه مهال چې مولانا کاموي رحمه الله په دارالعلوم ديوبند کې زده کړې کولې، هماغه وخت حضرت مدني رحمه الله له خپل شيخ او مرشد، شيخ الهند رحمه الله سره د بندی په توګه په مالټا کې بندي و. کله چې حضرت مدني رحمه الله له بند څخه خوشې شو او هند ته راستون شو، له څه مودې وروسته مولانا کاموي رحمه الله افغانستان ته راستون شو.

په دې توګه د دواړو حضراتو ترمنځ نه د ناستې ولاړې او نه هم د علمي اړيکې کوم فرصت برابر شو؛ له همدې امله مولانا غلام نبي رحمه الله تر هغه وخته پورې د حضرت مدني رحمه الله په علم او فضل قانع شوی نه و.

حضرت بنوري رحمه الله فرمايي:

زما له ډېرې مودې راهيسې دا هيله وه چې يوه ورځ مولانا غلام نبي هند ته راشي، ترڅو زه يې ديوبند ته بوځم او له حضرت مدني رحمه الله سره يې ملاقات وکړم، او دی پخپله د حضرت مدني رحمه الله علمي کمالات او فيوضات ووينې.

(مولانا يوسف بنوري رحمه الله په هغه وخت کې د ګجرات په جامعه اسلاميه تعليم الدين، ډابهيل کې د حديث استاد و، او دا د ۱۹۳۴م کال څخه وروسته زمانه وه؛ تر دې مخکې په ۱۹۳۳م کال کې علامه کشميري رحمه الله وفات شوی و.)

حضرت بنوري رحمه الله نور فرمايي:

د الله تعالی عجيبه فيصله وه چې يوازې يوه مياشت وروسته مولانا غلام نبي کاموي رحمه الله ډابهيل ته تشريف راوړ. شپه مو هلته تېره کړه، او سبا سهار وختي د دارالعلوم ديوبند پر لور روان شو.

کله چې مولانا حسين احمد مدني صاحب رحمه الله د بخاري شريف درس پيل کړ، موږ هم ورسره په درس کې کېناستو. مولانا غلام نبي صاحب په پوره توجه سره درس ته ناست و، او زه په زړه کې په دوامداره توګه د الله تعالی په حضور کې دا دعا کوم چې د درس پر مهال داسې علمي نکات او دقيقې څېړنې راڅرګندې شي چې مولانا غلام نبي صاحب ته د حضرت مدني صاحب رحمه الله علميت څرګند شي.

همدا خبره مې په زړه کې وه چې مولانا مدني رحمه الله د منطقي او فلسفي دلايلو په مرسته د يوې پېچلې کلامي مسئلې په اړه خبرې پيل کړې.

هماغه وخت مولانا غلام نبي صاحب رحمه الله د دې مسئلې په اړه خپل څو اشکالات او اندېښنې د پوښتنو په بڼه له حضرت مدني رحمه الله څخه مطرح کړې.

حضرت مدني رحمه الله ، سره له دې چې عمر يې زيات و، په ډېرې حوصلې او پراخې سينې سره د هغه پوښتنو ته ډاډ ورکوونکي، پياوړي او علمي ځوابونه ورکول.

د مولانا غلام نبي د پوښتنو له امله د حضرت مدني رحمه الله تحقيقي بحث لږ اوږد شو، تر دې چې په هغه ورځ د بخاري شريف درس چې عموماً به يو نيم ساعت و، درې ساعتونو ته وغځېد.

د دې بحث په جريان کې هغه وخت هم راغې چې مولانا غلام نبي رحمه الله يوه فلسفي پوښتنه وکړه. مولانا مدني صاحب رحمه الله ورته په دلايلو سره ځواب ورکړ او ورسره يې د فلسفې له يوې ستونزمنې کتاب، «صدرا» څخه د دوو مخونو عبارت هم له ياده ورته واوراوه.

دا علمي خبرې او بحث همداسې روان و، تر دې چې مولانا غلام نبي رحمه الله قانع شو.

کله چې درس پای ته ورسېد او مولانا مدني رحمه الله له مجلس څخه ووت، ما له مولانا غلام نبي صاحب څخه وپوښتل:

اوس د مولانا مدني د علميت په اړه ستاسو څه نظر دی؟

هغه وويل:

«يوسف جان مولوي صاحب! اوس د مولانا حسين احمد مدني په اړه زما دا نظر دی چې که په دې زمانه کې نبوت جاري وای، نو مولانا حسين احمد مدني به د نبوت پر منصب فائز شوی وای.» (۲۲)

که وغواړئ، د همدې ژباړې د کتاب/مجلې لپاره ادبي او علمي سبک هم ساتلی شم، خو د متن په مطلب او معلوماتو کې به هېڅ بدلون نه راولم

له دې پورته ذکر شوې پېښې څخه د حضرت شيخ الاسلام مولانا حسين احمد مدني رحمه الله علميت، د تحقيق ذوق او لوړ ظرف، سربېره پر دې څو نورې خبرې هم معلومېږي:

۱ -د مولانا غلام نبي کاموي رحمه الله او مولانا بنوري رحمه الله ترمنځ خپلمنځي اړيکه او تړاو، د دارالعلوم ديوبند له فراغت وروسته، په پېښور کې او بيا وروسته، کله چې حضرت بنوري رحمه الله د علم د ترلاسه کولو لپاره ډابهيل ته هجرت وکړ، هماغسې پاتې و.

۲ -پورته ذکر شوې پېښه د دواړو حضراتو ترمنځ د علمي اړیکې او بې تکلفه خپلمنځي تړاو څرګند ثبوت دی.

۳ -یا خو دا د حضرت بنوري رحمه الله د دعا اثر و، او یا د حضرت مدني رحمه الله کرامت؛ چې د مولانا غلام نبي کاموي رحمه الله د اندېښنې او شک د له منځه وړلو لپاره داسې ښه فرصت برابر شو چې د شاګردانو په شتون کې یوه اوږده او له علمي بحثونو ډکه مجلس جوړ شو.

۴ -همدارنګه هغه صحنه ډېره زړه راښکونکې وه چې مولانا غلام نبي کاموي رحمه الله ، چې د علم یوه ستره ذخیره وه، د علمي باریکیو د څېړلو او تحلیل په اړه له حضرت مدني رحمه الله څخه پرله‌پسې پوښتنې کوي، حضرت مدني رحمه الله یې په دلایلو او تحقیقي انداز ځوابونه ورکوي، او حضرت بنوري رحمه الله هم په دې علمي مجلس کې شریک دی.

د مولانا کاموي رحمه الله د خپل استاد حضرت مولانا انور شاه کشمیري رحمه الله په اړه څرګندونه

د حضرت بنوري رحمه الله ممتاز شاګرد، شهیدِ اسلام مولانا محمد امین اورکزي رحمه الله فرمایلي دي:

حضرت الشیخ ـ یعنې حضرت بنوري رحمه الله ـ د مولانا غلام نبي کاموي رحمه الله دا خبره نقل کړې ده:

«څومره لوی عالمان چې مور لیدلي دي، که وغواړو، نو مور هم د هغوی په څېر عالم کېدای شو؛ مګر انور شاه رحمه الله.» (۲۳)

د مولانا غلام نبي رحمه الله پېښور ته د ملاقات لپاره راتګ او د حضرت بنوري رحمه الله خوښي

په ۱۹۲۹م کال کې له جامعه تعلیم الدین ډابهیل څخه تر فراغت وروسته، حضرت بنوري رحمه الله د خپل شیخ علامه انور شاه کشمیري رحمه الله په پلرني کلي کشمیر کې شاوخوا شپږ میاشتې تېرې کړې. په دې موده کې یې د حضرت کشمیري رحمه الله ډېر خدمت وکړ، او همدارنګه یې له هغه څخه د علم او فلسفې په اړه له ډېرو بحثونو څخه په ځانګړې توګه ګټه واخیسته.

په ۱۹۳۰م کال کې پېښور ته راستون شو او تر ۱۹۳۴م کال پورې، یعنې پوره څلور کاله، په پېښور کې په علمي او ملي خدمتونو بوخت و.

په دې موده کې یې له معاصرو علماوو او بزرګانو سره د لیکونو له لارې اړیکه لرله. حضرت مولانا عبد الحق نافع صاحب رحمه الله چې د حضرت بنوري رحمه الله معاصر، ملګری او پخوانی رفیق و، او په هغه وخت کې په دارالعلوم دیوبند کې د صدر المدرسین پر منصب مقرر و، له هغه سره د لیکونو په لړ کې حضرت بنوري رحمه الله په یوه لیک کې د مولانا غلام نبي کاموي رحمه الله د راتګ یادونه کړې ده.

د دې لیک له عبارت څخه له یوې خوا د علامه کاموي رحمه الله او علامه بنوري رحمه الله ترمنځ د متقابلې مینې او محبت اندازه لګېږي، او له بلې خوا دا هم معلومېږي چې شیخ عبد الحق نافع رحمه الله هم له مولانا غلام نبي کاموي رحمه الله سره اړیکه لرله.

ليک نسبتاً اوږد او په عربي ژبه ليکل شوی دی. دلته يې په لنډ ډول دا عبارت وړاندې کېږي:

«اجتمع إلينا الأضياف من نواح شَتَّى، فذهب وقتٌ طويلٌ فی العِشاء ... وبيننا فی ذلک أنْ تَفَضَّل مولانا غلام نبی، وَ مَكَث فی حجرة المَسجد لِمَكان الضيوف وأطلعنی بوروده خفيًا بإرساله إلیَّ نجيا، فاختلت عنهم فرصة الاغتياب واحتفزتُ عن الأصحاب وانطلقت إليه للقاء والترحاب حتی تفكهنا نحو ساعتين بالمكالمة والآن صدر عنا فأتيت وطائی. (۲۴)»

ژباړه:

له بېلابېلو سيمو څخه زمور څو مېلمانه راغلي وو، د شپې تر ناوخته پورې مجلس روان و. د ماخوستن له لمانځه څخه ډېر وخت وروسته چې مور له مجلسه فارغ شوي وو، محترم مولانا غلام نبي صاحب راغی. هغه د مسجد په حجره کې کېناست او په پټه يې د خپل راتګ خبر راکړ.

نو ما په هره طريقه له مېلمنو څخه ځان خلاص کړ او ژر د هغه د هرکلي او ښه راغلاست لپاره ورغلم. دواړه شاوخوا دوه ساعته په خوږو او د زړه پورې خبرو بوخت وو. اوس چې هغه له مور څخه لاړ، زه پاڅېدم او خپل بستر ته راغلم.

د دوي رحمه الله تصنيفات او تأليفات

له تصنيف او تأليف سره مو ځانګړې مينه وه. په تفسير، فقه، علم الكلام، منطق او فلسفه کې مو ګڼې علمي يادګارونه پرېښي دي.

تاسو په عربي، فارسي او دري ژبو کې شاوخوا لس واړه او لوی کتابونه ليکلي دي، چې له هغو څخه يې ځينې دا دي:

(۱) تفسير کابلي:

د شيخ الهند رحمه الله د تفسير، چې په تفسير عثماني مشهور دی، فارسي او دري ژباړه، په دري ټوکه کې.

دا تفسير د افغان علماوو يوې ډلې ترتيب کړی و؛ خو د دې ټولو علماوو مشر، لارښود او بيا اصلي او مرکزي رول همدا ستاسو و. دا پېښه د ۱۳٦۸هـ کال، چې له ۱۹۴۹م کال سره سمون لري، ده.

(۲) د سلم العلوم د شرحې ملا مبارک په حاشيه کې حاشيه.

(۳) د اثبات حشر و نشر په موضوع يو پوره علمي او منطقي رساله.

(۴) د وعظ او نصيحت او علم او تحقيق په اړه شاوخوا څلوېښت مقالې په يوه ټولګه کې.

دا مقالې ډاکټر عبدالملک صاحب په ښکلي او سترګو ته په زړه پورې چاپ سره له کابله خپرې کړې دي، او دا مقالې چې څو سوه مخونه لري، په فارسي ژبه دي.

(۵) د اثبات النبوة والرسالة تر عنوان لاندې يو کتاب چې کلامي بحثونه پکې شامل دي.

دلته دا خبره هم د يادولو وړ ده چې مولانا صاحب ته د دې کتاب په بدل کې د هغه وخت د افغان وزير فيض محمد خان له خوا د معارف په وزارت کې پر يوه ستر علمي منصب مقرر کېدل هم ورکړل شول او د دې کتاب د ژر چاپېدو وعده هم وشوه.

خو ويل کېږي چې د درسي کتابونو د چاپولو له امله د دې کتاب په چاپ کې ځنډ راغی.

وروسته مولانا صاحب څو ځله د پوهنې وزارت ته غوښتنه وکړه چې کتاب بېرته ورکړل شي، ترڅو زه يې په خپل شخصي لګښت چاپ کړم؛ خو له بده مرغه دا قيمتي علمي پانګه نه مولانا صاحب ته بېرته ورکړل شوه او نه تر اوسه چاپ شوې ده. (۲۵)

هيله ده چې تر اوسه به دا کتاب د معارف په وزارت کې خوندي پاتې وي. ارتيا دا ده چې دغه کتاب پيدا او د چاپولو لپاره يې انتظام وشي.

د مقالات کاموي رحمه الله سربېره، دلته په کراچۍ کې د مولانا صاحب نور چاپ شوي کتابونه موږ ته په لاس رانغلل. پورته معلومات او څرګندونې د کورنيو روايتونو او خوندي تاريخي اسنادو په رڼا کې وړاندې شوې دي.

د تفسير کابلي د ليکلو لامل او د مولانا صاحب منهج او اسلوب

په ۱۳۶۸هـ کال، چې له ۱۹۴۹م کال سره سمون لري، د افغانستان د پاچا ظاهر شاه له خوا د حکومت صدر اعظم مرحوم محمد هاشم خان ته دا حکم وشو چې د شيخ الهند مولانا محمود حسن ديوبندي رحمه الله او شيخ الاسلام مولانا شبير احمد عثماني رحمه الله د قرآن کريم ژباړه او تفسير له اردو ژبې څخه پښتو، دري او فارسي ملي ژبو ته وژباړل شي.

د پاچا د حکم پر بنسټ د دې ستر‌ې او تاريخي دندې د ترسره کولو لپاره د نوموتو او لويو علماوو يوه کمېټه جوړه شوه، چې د دې کمېټې مشر او سرلارى مولانا غلام نبي کاموي رحمه الله و.

د تفسير کابلي د ليکلو طريقه

د تفسير کابلي په ليکلو کې تاسو يوازې په ژباړې بسنه ونه کړه؛ بلکې په ځينو ځايونو کې، د ژباړې او تفسير د دقت او ستونزو له امله، اصلي سرچينو او مراجعو ته مو مراجعه وکړه.

له همدې امله فرمايي:

«ما د دې تفسير په ژباړه کې يوازې پر دې بسنه ونه کړه چې دا د لويو او نوموتو استادانو ليکنه ده او همدا نسبت يې بس دى؛ بلکې د دې تفسير د اصلي مآخذو او سرچينو تر څېړنې وروسته مې پخواني او نوي معتبر تفسيرونه هم وکتل، له هغوى سره مې مقابله او تطبيق وکړ، او له تصديق او ډاډ وروسته مې خپله علمي رأيه هم څرګنده کړه.» (۲۶)

د مولانا کاموي رحمه الله اولادونه او لمسيان

حضرت ته ټول شپږ اولادونه وو، چې څلور لونې او دوه زامن پکې شامل وو.

له دغو دوو زامنو څخه يو يې د حضرت په ژوند کې وفات شو.

د دويم زوی، مولوي شيخ عبد العلي کاموي رحمه الله ، په روزنه او تعليم کې حضرت هېڅ ټول کوتاهي ونه کړه. هغه د حضرت تر سرپرستۍ لاندې په دارالعلوم عربي کابل کې خپله بشپړه زده کړه ترسره کړه.

له فراغت وروسته يې درې کاله په همدې دارالعلوم عربي کابل کې د تدريس خدمتونه هم ترسره کړل.

وروسته د مولانا قاضي شيخ عبد العلي کاموي په نوم مشهور شو، او د اوږدې مودې لپاره يې په کابل او ننګرهار کې د قاضي القضات دنده ترسره کړه. وروسته يې د افغانستان په ستره محکمه (سپريم کورټ) کې د لوړپوړي او ارشد قاضي په توګه هم خدمت وکړ.

قاضي عبد العلي اووه زامن لرل. ټول د علم او کمال خاوندان وو، او د خپل محترم پلار او نيکه نښه وارثان ثابت شول. ډېری يې د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې په علمي او عملي خدمتونو بوخت دي، چې په ترتيب سره دا دي:

۱ -الحاج شيخ مولوي عبد الحي کاموي:

د مکې مکرمې د جامعه ام القری فارغ دی. اوس مهال په کامه کې د خپل محترم نيکه له خوا د جوړ شوي مدرسې مهتمم دی، او په ننګرهار کې د خيريه او ټولنيزو خدمتونو په چارو کې مخکښ رول لري.

۲ -انجنير محمد علي کاموي:

د انجينرۍ په برخه کې يې د ماسټرۍ سند ترلاسه کړی و، او پنځه کاله وړاندې وفات شو.

۳ -قاضي محمد عامر کاموي:

د فقه، قانون او قضا زده کړې يې د مصر له جامعه ازهر څخه کړې دي، او اوس په افغانستان کې د قضا په څانګه کې دنده ترسره کوي.

۴ -ډاکټر عبدالملک کاموي:

د مصر له جامعه ازهر څخه يې د «فقه المقايس» تر عنوان لاندې د دوکتورا سند ترلاسه کړی، او اوس په علمي او تأليفي کارونو بوخت دی.

۵ -وليد کاموي:

په کاناډا کې د خپلې شخصي سوداګرۍ له امله مېشت دی.

٦ -ډاکټر حافظ خالد کاموي:

د قرآن کریم حافظ دی او په طب کې یې تخصص کړی دی. اوس په برتانیا کې د یو وتلي ډاکټر په توګه خدمت کوي.

٧ -الحاج موسی کاموي:

له پښتور څخه یې د اقتصاد په برخه کې د ماسټرۍ سند ترلاسه کړی، او اوس د افغانستان د اسلامي امارت د مالیې وزارت د تکافل د څانګې مسئول دی.

وفات

د علم او معرفت دغه ځلانده لمر، چې نږدې اته اویا کاله یې په علمي او ملي خدمتونو کې تېر کړل او یوه لویه اسلامي ټولنه یې په خپلو علمي ځلاوو روښانه او فیضیابه کړه، په ١٣٩٢هـ ق / ١٩٧٢م کال، د جمعې په ورځ د ورځې په دوو بجو، له یوې لنډې ناروغۍ وروسته د کابل په وزیر اکبر خان روغتون کې د تل لپاره ولوېد.

د وفات خبر یې ډېر ژر په ټول افغانستان کې خپور شو.

د پل خشتي په جامع جومات کې د افغانستان د جمعیت علمایو د رئیس او د سلسلهٔ عالیه قادریه د مشهور پیشوا مولانا الحاج الحافظ په امامت د هغه د جنازې لمونځ ادا شو.

له هغې وروسته د حضرت جنازه د ننګرهار د کامې ولسوالۍ د سنګر سرای کلي ته ولېږدول شوه، او هلته د هغه د خپل جوړ کړي مدرسې او لرغوني جومات ترڅنګ خاورو ته وسپارل شو.

رحمه الله رحمةً واسعة.

د ميلاد النبي صلى الله عليه وسلم شرعي حثيت

تحرير مفتي ابوياسر عبدالصبور الحقانی عفی عنه

کله چی ربیع الأول میا شت رانیزدی شی نو عام محافلو کی بالخصوص په علمی معاهدو کی د[میلاد النبی صلی الله علیه وسلم] لمانځلو یا د نه لمانځلو جواز یا عدم جواز یو طولانی بحث ومباحثه شروع شی چی کله کله د ادب او اعتدال د منهج څخه هم عبور وشی چی دا د اهل علمو لپاره د افسوس وړ دی___

(د میلاد تجلیل متعلق)

درې قسمه نظریات شتون لري

(۱)میلادالنبی صلی الله علیه وسلم لمانځل مطلقا ناجائز او بدعت دی

(۲)میلاد النبی تجلیل په ربیع الأول یو مخصوص تاریخ کی لمانځلو ضروری دی"دغه دواړ طبقي د افراط او تفریط مرتکب او د"صراط مسقیم منهج نه منحرف شوی دی

(۳)دمیلاد النبی تجلیل او د اهل السنة والجماعة علماء دیوبند نظریه)"په دی کی بالکل شك او شبهی گنجائش هم نشته چی د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره عشق او عقیدت او محبت عین ایمان دی او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ولادت نه واخله تر وفاته پورې د ژوند د هر یوه شعبی صحیح حالات او واقعات او د هغوی اقوال او افعالو بیانولو د رحمة الهی د نزول باعث دی"او د هر مسلمان دا فریضه ده چی هغه دهغوي علیه السلام د ژوند حالات معلوم کړی د کال هره میاشت کی او میاشتی په هره اونۍ کې او د اونۍ په هره ورځ کې او د ورځې په هره ساعت او دقیقه کې هیڅ داسې وخت نه شته چی په کوم کې د هغوي علیه السلام د ژوند حالات بیانولو او اوریدل ممنوع وی دا خبره محل نزاع نه دی "نزاع په دی کې ده چی د ربیع الأول دولسم تاریخ په مقررولو او په دی میلاد کول "محفل او مجلس منعقد کول"یا ددې ورځی په مخصوصولو سره په فقیرانو طعام خوړول"وغیره درسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو اود اهل خیر القرون نه ثابت دي یانه؟ کچری ثابت وی نو هیڅ یو مسلمان ته په دې کې روسته او مخکی کیدل بالکل حق حاصل نه دی ځکه چې څه هغوی فعلا یا ترکا کړی دی هم هغه دین دی او د هغی مخالفت بی دیني ده

(۲۳) کاله هغوي علیه السلام بعد النبوة قوم کی ژوندې پاتې شوی دی بیا(۳۰)کاله خلافت راشده تیر شوی دی "اوبیا(۱۱۰)لسمی هجری پورې د صحابه کرامو دور پاتی دی"تقریبا(۲۲۰)کالو پوری د تابعینو او تبع تابعینو زمانه وو عشق و محبت هغوی کی کامل وو د رسول الله صلی الله علیه وسلم احترام او تعظیم دهغوی نه زیات څوک کولی شي؟

اوس سوال دا دی چی باوجود محرک او سبب د مبارک محفل دا د ثواب کار هغه وخت ولی ونه شو؟او نن دا څنګه د ثواب کار او مبارک ګڼل شوی دی؟بس په هم دغه نقطه باندی فکر او بیا فیصله پکار ده چی ټول هغه فوائد او برکات او منافع هغه وخت هم وي چی کومی نن مولودی بالخصوص اهل بدعت حضرات

بيانوي" دا ياد ووساتئ چې محفل ميلاد او" مجلس ميلاد جدا څيز دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نفس ذکر ولادت باسعادت جدا څيز دی" اولنی بدعت دی او دويم مندوب او مستحب دی لکه حضرت مولانا رشيد احمد گنگوهی رحمه الله المتوفی۱۳۲۳)ليکي" نفس ذکر د ولادت مندوب دی او په دې کې کراهت د قيودو په سبب راغلی دی/فتاوی رشيد يه ج۱ص۱۰۲_____اوبل داهم ليکی" د فخر عالم صلی الله علیه وسلم ولادت نفس ذکر مندوب دی ولی په سبب د انضمام ددغو قيودو دا مجلس ممنوع شو/ج۱ص۱۱۰)که څوک فهم عالی خاوند د"نفس ذکر ولادت "او عقد مجلس او محفل ميلاد په فرق نه پوهيږی نو ددې مونږ سره څه علاج نه شته[شعر]

"که سترگی دچا پټې وي نو ورځ هم ورته شپه ده"په دی کی راته وايه څه قصور دی د افتاب"[[

دمجلس ميلاد تاريخ]]

پوره شپږ صدی تيری شوي وي چی ددې بدعت چيرته مسلمانانو کی رواج نه وو نه خو کوم صحابی" ته خيال راغی نه"تابعی ته "نه چا محدث ته "نه فقيه ته "نه چا بزرگ او ولی ته دغه بدعت ته خيال شو"نو چا چی ايجاد کړی هغه هم يو مسرف بادشاه او د هغه يو ملگری دنيا پرسته مولوی وو"دابدعت (٦٠٤)هجري کال کی موصل نښار کی مظفرالدين کوکری بن اربل المتوفی ٦٣٠ په حکم ايجاد شو چی يو مسرف او دين نه بی پروا باد شاه وو(ابن خلکان وغيره)

امام احمد بن محمد المالکی ليکی"

کان ملکا مسرفاياًمر علماء زمانه ان يعملوا باستنباطهم واجتهاد وان لا يتبعوالمذهب غيرهم حتی مالت اليه جماعة من العلماء وطائفة من الفضلاء واحتفل لمولد النبی صلی الله عليه وسلم فی الربيع الأول وهو اول من أحدث من الملوك هذاالعمل(القول المعتمد فی عمل المولد"بحوالہ المنهاج الواضح ص۲۳۲)دغه مسرف بادشاه به دبيت المال څخه په دغه "محفل ميلاد"باندی بی حسابه پيسی لگولو (علامہ زهبی المتوفی ٧٤٨)ليکی"

کان ينفق کل سنة علی مولد النبی صلی الله عليه وسلم نحو ثلاث مائة الف/دول الإسلام ج۲ص۱۰۳)او چی کوم دنيا پرسته مولوی ددی جشن شوقی بادشاه لپاره دمحفل ميلاد په جواز مواد جمع کړی وو دهغه نوم عمر بن دحيه ابوالخطاب المتوفی ٦٣٣)وو چی چاته ددی کتاب په صله کی صاحب اربل زر پونډ انعام ورکړی وو(دول الإسلام ص١٠٤)اوس لږ دهغه مولوی تعريف هم اولولئ چی هغه څنگه سړی وو؟شيخ الاسلام ابن حجرعسقلانی ليکی" کثير الوقيعة فی الائمة وفی السلف من العلماء خبيث اللسان احمق شديد الکبر قليل النظر فی امور الدين متهاونا(لسان الميزان ج٤ص٢٩٦)حافظ موصوف دا هم ليکی"قال ابن النجار رأيت الناس مجتمعين علی کذبه وضعفه(لسان ج٤ص٢٩٥)محترمو لو ستونکو:تاسو ته معلومه شوه چی دا يو دنيا پرسته مولوی او مسرف بادشاه مخلوط ايجاد او أحداث دی چی په خيرالقرون کی هيڅ قسم څه ثبوت نه لری عبدالله بن مبارک رحمه الله فرمائی[وهل افسدالدين الا الملوك:واحبار سوء ورهبانها]

محترمو لوستونکو: کله چې میلادالنبی صلی الله علیه وسلم په خیر القرون کی نه دی تجلیل شوی بلکه پوره شپږمې صدۍ نه روسته اختراع او ایجاد شوی دی هغه هم یو مسرف بادشاه او د هغه یو ملګری دنیا پرسته مولوی لخوا "مونږ ته د خیرالقرون د اتباع تعلیم شوی دی نه دابتداع، الله تعالی دی مونږ ته ددی توفیق راکړی او ددی مروجه "محفل میلاد" دهری زمانی اهل حق او دهری طبقي عالمانو په شد ومد تردید کړی دی لکه شیخ الاسلام ابن تیمیة الحنبلي رحمه الله خپل فتاوی[مجموعة الفتاوی ج۱ص۳۱۲]کی"امام نصیرالدین الشافعي رحمه الله[رشاد الأخیار ص۲۰]کی " حضرت مجدد الف الثاني الحنفی رحمه الله په [مکتوبات حصه ۵ص۲۲]کی "او علامه ابن امیر الحاج المالکی رحمه الله په پوره صراحت او وضاحت سره ددی تردید کړی دی لکه چې علامه موصوف لیکی ــــــومن جملة ما احدثوه من البدع مع اعتقادات ان ذالك من أكبر العبادات وإظهار الشعائر ما يفعلونه فی الشهر الربيع الأول من المولود وقد احتوی ذالك علی بدعة ومحرمات(الی ان قال)وهذه المفاسد مرتبة علی فعل المولود اذا عمل بالسماع فان خلا منه وعمل طعاما فقط ونوی به المولود ودعا اليه الاخوان وسلم مندوب كل ما تقدم ذكره فهو بدعة بنفس نيته فقط لأن ذالك زيادة فی الدين وليس من عمل السلف الماضيين واتباع السلف اولی[المدخل ج۱ص۸۵ لابن امیر الحاج المالکی]دعلامه موصوف عبارت خلاصه دادی چې" مروجه میلاد عدم ثبوت په وجه بدعت دی

علامه عبد الرحمن المغربي فرمائي "ان عمل المولود بدعة لم يقل به ولم يفعله رسول الله صلی الله علیه وسلم والخلفاء والائمة[الشرعة الالهية: بحواله منهاج الواضح ص۲۳۵یعنی په خیر القرون کی دعدم وجود په وجه بدعت دی

علامه احمد بن محمد المالکی لیکی"

قد اتفق علماء المذاهب الأربعة بزم هذاالعمل[القول المعتمد بحواله منهاج الواضح ص۲۳۵ محترمو لوستونکو: تاسو خو به ددی مذکوره حوالو نه ددي مسئلی حقیقت ته رسیدلي یئ چې په خیرالقرون کی داعمل نه وو بلکی دشپږمی صدئ نه روسته ایجاد شو "او ددی موجدین حالات درته هم معلوم شوی دی چې بادشاه وقت ددی سرپرست وو او د(الناس علی دین ملوکهم)له مخی دعامو ددی نه متاثره کیدل هر ګز دقیاس نه بعیده نه وه عوام خو څه چې بعضی خواص هم محفوظ پاتی نه شو "هغوي د دغه عمل د جواز لپاره يي شرعي دليلونه لټول او تحقيق شروع کړه او لري لري قياسونو نه په کار اخستو ددی ګاډی د چلولو کوشش وکړی شو او امام سیوطی رحمه الله غوندی وسیع النظرعالم هم په دي ویلو مجبور شو چې[ليس فيه نص ولكن فيه قياس](حسن المقصد فی عمل المولد)امام موصوف صفا اقرار کوی چې قرآن کریم "حدیث شریف "او د اجماع نه هیڅ نص ددی میلاد په جواز موجود نه دی "هو البته قياس دی او قياس يي چې کوم پیش کړو هغه هم فاسد "او داخبره هم نظر انداز ه کړی شوی ده چې دکوم څیز سبب او محرك چې خیرالقرون کی موجود وو ،په هغی کی دقیاس او اجتهاد کولو ګنجائش دکومی را پیدا شو؟

بعضی حضراتو: دخپل زړه تسکین او دخپلو حواریانو دتسلی لپاره د (٤٥٠)سوا کتابونو فهرست هم ورکړو چې دغو حضراتو عمل مولود مستحسن ګڼلو ولی په دی يي فکر اونه کړو چې دصحابه کرامو او تابعینو نو م هم دغو کی شته یا نه؟دمجتهدینو امامانو حضراتو او مستند و محدثینو ذکر هم شته یانه؟بیا په دی يي غور

ونکړو چې په دغو کی اکثریت د صوفیاء کرامو دی چی د کومو عمل په قول دحضرت مجدد الف الثاني رحمه الله حجت نه دی[عمل صوفیه در حل وحرمت سند نیست]او چی کوم بعضی محقق علماء دی هغوی صرف "نفس ذکر ولادت استحباب قائل دی او الحمد لله زمونږ أکابر دیوبند قدس الله اسرارهم "هم نفس ذکر ولادت "مستحسن او باعث نزول رحمت الهی ګڼي دا محل نزاع نه دی "

(میلاد النبی د دیوبند د اکابرو په نظر کی)

محترم لوستونکو:ته دی واضح وي چی زمونږ اکابر مطلقا میلاد څخه منکر نه دی البته تخصیص او قیودوغیره بدعی امورو څخه ضرور منکر دی یو څو حوالي دخپلو لوستونکو په ضیافت کی رانقلوم(۱)علامه رشید احمد ګنګوهی رحمه الله لیکی " د ولادت نفس ذکر مندوب دی او په دی کی کراهت دقیودو په سبب راغلی دی[فتاوی رشیدیه ج۱ص۱۰۲__ج۱ص۱۱۰](۲)سیدالطائفه حضرت حاجي امداد الله مهاجرمکی رحمه الله هم "نفس ذکر ولادت باعث برکت منی[هفت مسئله ص۸](۳)حکیم الأمة علامه تهانوی رحمه الله لیکی "فهذاالذکرالشریف ان کان خالیا من التخصصات والقیود فلا کلام في دخوله تحت الحدود وان کان مقارنات لها مع الاحترام فان اعتقد کونها لازم او مقصود کان من المحدثات وان لم یعتقد کونها قربة لکن اوهمه کان مشابها بالبدعات[خطبات الاحکام ص۱٦٦__۱٦۷](٤)علامه خلیل احمد سهانپوری رحمه الله یو سوال په جواب کی لیکی "۰۰۰۰۰فالاحوال التی لها ادنی تعلق برسول الله صلی الله علیه وسلم ذکرها من احب المندوبات واعلی المستحبات عندنا سواء کان ذکر ولادت الشریفة او ذکر بوله وبرازه وقیامه وقعوده ونومه[المهند علی المفند ص٦٤__٦٥باقی علماء کراموعبارات نقل دطوالت باعث ګرځی صرف داکابرو نومونو فهرست باندی اکتفاء کوومه(٥)علی بن مفضل المالکی(٦)ابن تیمیة الحنبلي(۷)ابن القیم الحنبلي(۸)فضل الله تورپشتی(۹)مجدد الف ثانی(۱۰)شاه عبدالعزیز دهلوی(۱۲)نصیرالدین ګجراتی(۱۳)ابن امیر الحاج(۱٤)حسن بن علی(۱٥)امام ابن الحاج(۱٦)بشیرالدین قنوجی(۱۷)حسن الخوارزمی(۱۸)محمد یعقوب رامپوری(۱۹)عبدالکریم رامپوری(۲۰)احمدبن محمد بصری المالکی(۲۱)شیخ أحمد رامپور(۲۳)عبدالسمیع رامپوری(۲٤)قاضی انعام الحق رامپوری(۲٥)محمد اسحق تهټوری(۲٦عبدالحق رامپوری(۲۷)علاؤالدین رامپوری(۲۸)مظفرحسین کاندهلوی(۲۹)نورالحسن کاندهلوی(۳۰)شیخ محمد تهانوی(۳۱)عبدالرحیم تهانوی(۳۲)مملوک العلی نانوتوی(۳۳)محمد قاسم نانوتوی(۳٤)محمد یعقوب نانوتوي(۳٥)احمد علی سهانپوری(۳٦)مظهرنانوتوی(۳۷)شیخ سعادت سهارنپوری(۳۸)محمد حسن سهانپوری(۳۹)رشید احمد ګنګوهی(٤۰)شیخ الهند(٤۱)مفتی عزیز الرحمن(٤۲)مفتی کفایت الله دهلوی(٤۳)مفتی محمد شفیع(٤٤)احمد علی لاهوری(٤٥)عبدالشکور مرزاپوری(٤٦)نواب قطب الدین خان دهلوی(٤۷)محمود حسن ګنګوهی(٤۸)رشید احمد لدهیانوی(٤۹)یوسف لدهیانوی(٥۰)امام اهل السنة استاذنا العلام حضرت محمد سرفراز خان صفدر رحمه الله "دغو ټولو حضراتو خپل موقف یاد مسئله کی واضح کړی دی]

کارګزاري

اداریه

د جامعې عبدالله بن مسعود رضی الله عنه میاشتنی مجلس

الحمد لله رب العالمین اما بعد د شنبې په ورځ، د جامعه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه میاشتنی مجلس د ټولو درنو استادانو په ګډون ترسره شو.

دا مجلس چې د جامعې د تعلیمي، تربیتي او اداري چارو د ارزونې او لا ښه والي په موخه جوړ شوی و، په کې پر بېلابېلو مهمو موضوعاتو هر اړخیز بحث او مشوره وشوه. د مجلس مهمې موضوعګانې په لاندې ډول وې:

۱ ـ د چهار نیمه امتحان ارزونه:

د چهار نیمه امتحان پر پایلو تفصیلي بحث وشو. په ځانګړې ډول د هغو طلباء کرامو د ستونزو په اړه خبرې وشوې چې په لیک، املا او یا ځینو درسي برخو کې کمزورې وو، ترڅو د هغوی د کمزورۍ لاملونه معلوم او د پیاوړتیا لپاره یې مناسبه تګلاره غوره شي.

۲ ـ د عربي عبارت د صحیح ویلو تمرین:

د طلباء کرامو د عربي عبارت د صحیح، روان او فصیح لوستلو پر اهمیت خبرې وشوې، ترڅو زمونږ زده کوونکي د عربي عبارت په لوستلو کې پوره مهارت او ملکه ترلاسه کړي.

۳ ـ د مسؤلیتونو د کارګزارۍ ارزونه:

هغو استادانو چې د جامعې بېلابېل مسؤلیتونه ورسپارل شوي وو، د خپلو ترسره کړو چارو کارګزاري وړاندې کړه او د راتلونکو چارو په اړه هم لازمې مشورې وشوې.

۴ ـ د شعبه حفظ ارزونه:

د شعبه حفظ محترم ناظم اعلی صاحب د حفظ شعبې د تعلیمي او اداري چارو تفصیلي کارګزاري وړاندې کړه. د الله تعالی په فضل او کرم، د تېر وخت په پرتله په دې شعبه کې شاوخوا اتیا سلنه پرمختګ راغلی، چې د خوښۍ او شکر ځای دی.

۵ ـ د شعبه کتب تعلیمي کارګزاري:

د شعبه کتب محترم ناظم اعلی صاحب د طلباء کرامو څخه د کتابونو د لوستلو راټوله شوې کارګزاري وړاندې کړه. په ارزونه کې څرګنده شوه چې د ټاکلي نصاب له مخې د دوو کتابونو په لوستلو کې کمښت موجود و؛ له اړوندو استادانو سره د نصاب د بشپړ تطبیق په اړه لازمې خبرې وشوې. همدارنګه د ځینو کتابونو د تدریس پر غوره طریقې هم مفصل بحث وشو.

٦ ـ د طلباء کرامو د وضع قطع او صفايۍ نظام:

د طلباء کرامو د ظاهري نظم، وضع قطع، پاکوالي او صفايۍ په اړه هم بحث وشو، ترڅو د علم ترڅنګ د طلباء کرامو په شخصيت، نظم او ظاهري آراستګۍ کې هم لازم اهتمام موجود وي.

٧ ـ د» يوم سرپرستان «د پروګرام په اړه:

د سرپرستانو د ورځې د جوړولو، د هغې د موخو، ترتيب او د انعقاد د طريقې په اړه هر اړخيز بحث وشو او د دې لپاره لازمې لارې چارې وټاکل شوې.

٨ ـ د استادانو د اصلاحی او پرمختيايي مشورو ارزونه:

يوه اوونۍ وړاندې ټولو استادانو ته وخت ورکړل شوی و، ترڅو د جامعې د تعليمي، تربيتي او تعميري پرمختګ لپاره مطالعه، څېړنه او مشوره وکړي او خپلې ګټورې طرحې وړاندې کړي. الحمد لله، د استادانو ارزښتمنې مشورې راټولې او خوندي شوې، چې د اړتيا او امکان مطابق به يې د عملي کولو لپاره ګامونه پورته کېږي، إن شاء الله.

٩ ـ د مشورتي مجلس جوړول:

د جامعې د لا پرمختګ او د چارو د لا پخوالي لپاره د يوه مشورتي مجلس د جوړېدو پرېکړه هم وشوه، چې په کې به د هېواد په کچه له درنو مشايخو، علماوو او تجربه لرونکو شخصيتونو څخه د هغوی د علمي او اداري تجربو له مخې انتخاب وشي، ترڅو د جامعې د تعليمي، تربيتي او اداري پرمختګ لپاره تر ې وخت پر وخت لارښوونه او مشوره واخيستل شي.

١٠ ـ د استادانو منه او تشويق:

د مجلس په پای کې مو د جامعې له ټولو درنو استادانو څخه د زړه له کومې منه وکړه، چې د طلباء کرامو د تعليمي او تربيتي پرمختګ لپاره يې په اخلاص، مينې او پوره زحمت خپلې دندې ترسره کړې دي. همدارنګه استادان مو وهڅول چې په راتلونکي کې لا ډېرې هڅې، زحمتونه او ابتکاري ګامونه واخلي، ترڅو زموږ د طلباء کرامو د علمي او اخلاقي روزنې په برخه کې لا غوره پايلې ترلاسه کړو.

الله تعالی دې د ټولو درنو استادانو هڅې، زحمتونه او اخلاصونه قبول کړي، او جزاهم الله خيراً وأحسن الجزاء دې ورپه برخه کړي.

د پرمختګ سفر؛ د مشورې او همکارۍ سفر دی

زموږ باور دا دی چې د يوې علمي اداري پرمختګ يوازې د يوه فرد په هڅو نه، بلکې د اخلاص، مشورې، ګډ کار، دوامداري ارزونې او د تېرو تجربو د اصلاح په مټ رامنځته کېږي.

موږ د جامعې د ټولو درنو استادانو له اخلاص، همکارۍ، هڅو او ارزښتناکو مشورو څخه منه کوو او له الله تعالی څخه دعا کوو چې جامعه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د دين، علم، تربيې او دعوت يوه اغېزمنه او ګټوره اداره وګرځوي او زموږ ټولې هڅې د خپل رضا لپاره قبول کړي. وَ مَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ

محمد عمران شريف

مهتمم او خادم ـ جامعه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه